بانک The Bank
میاشتنی | Monthly | ماهنامه
۲۲۳ گڼه - ۱۴۴۷ شعبان المعظم - ۱۴۰۴ سلواغه




# په افغانستان کې د مالي شمولیت خنډونه او فرصتونه

٤ مخ

## ګرانو هېوادوالو!

که چېرې مالي مؤسسو ته د مراجعې پر مهال له کومې ستونزې سره مخ کيږئ، يا له تاسې سره نامناسب چلند کيږي او يا هم ستاسې حقونه د اصولو پر بنسټ نه درکول کيږي، نو کولای شئ چې خپل شکايت مو د customer.protection@dab.gov.af برېښناليک، د ۰۲۰۲۵۱۱۷۲۶ تيليفون شمېرې او يا د +۹۳ ۷۹ ۸۷۰ ۳۷۵۵ وټس اپ شمېرې له لارې د افغانستان بانک د مالي پېرېدونکو له برخې سره ثبت کړئ. موږ به ژر تر ژره ستاسو شکايتونو ته رسېدنه وکړو.

---

## هموطنان عزيز!

در صورتيکه حين مراجعه به يکی از مؤسسات مالی به کدام مشکل مواجه می شويد ويا با شما برخورد نامناسب صورت می گيرد ويا هم حقوق شما به اساس اصول پرداخت نميگردد، شما می توانيد شکايت خويش را از طريق ايميل آدرس customer.protection@dab.gov.af، شماره تيليفون ۰۲۰۲۵۱۱۷۲۶ و يا شماره وتس اپ +۹۳ ۷۹ ۸۷۰ ۳۷۵۵ با بخش حقوق مشتريان مالی د افغانستان بانک ثبت نماييد. ما به شکايت شما به اسرع وقت رسيدگی می نماييم.




**د امتیاز خاوند: د افغانستان بانک**

**کتنپلاوی: فدا محمد فیضان، احمد جواد سداد او محمد ادریس رونق**

**سرلیکوال: شفیق الله بارز**



- د افغانستان بانک له بازار څخه راټول شوي مندرس بانکنوټونه وسوځول ۱
- فعالیت‌ها و دست آوردهای د افغانستان بانک طی ربع اول سال ۱۴۴۷ ۲
- په افغانستان کې د مالي شمولیت خنډونه او فرصتونه ۴
- احیای امید و اشتغال؛ طرح بازسازی سکتور زراعت و سیستمهای غذایی افغانستان ۸
- په هېواد کې نوې فابريکې او د ځانبسیاینې انګېزې ۱۱
- از کمپ های مؤقت تا محلات پایدار: چگونگی سیر تحول بی‌جاشدگان در شهرهای افریقا ۱۴
- اقتصادي خبرونه ۱۷
- د غیر بانکي مالي مؤسسو وده او د مالي ثبات پر وړاندې نوي خطرونه ۱۹
- په معاصر اقتصاد کې د برېښنايي پیسو نوښت، ګټې او ننګونې ۲۳
- Tokenization and the Strategic Shift in Global Finance ۳۱



**مسئول مدیر: انور الله حیات**

**خبریالان: سید خالد خالقیار او عبدالقیوم عالم**

**ډیزاین: خالد احمد فیضي**

**فوټوژورنالیست: زیرک ملیا**

**د وېش مسئول: نصرت الله احمدزی**

د چاپ شمېر: ۱۲۰۰ ټوکه

کال: نولسم

پته: د افغانستان بانک

د ثبت ګڼه: ۶۵۸

ټیلیفون: ۰۰۹۳۰۲۰۲۱۰۴۷۶۱

فکس: ۰۰۹۳۰۲۰۲۱۰۰۳۰۵

برېښنالیک: magazine@dab.gov.af

ویب پاڼه: www.dab.gov.af

۲۲۳



د مجلې د مقالو او انځورونو کارول د سرچینې په ذکر کولو سره جواز لري.

استفاده از مقالات و تصاویر مجله با ذکر مأخذ مجاز است.



Da Afghanistan Bank-Youtube    twitter.com/AFGCentralbank    www.facebook.com/AFGCentralbank

# د افغانستان بانک له بازار څخه راټول شوي مندرس بانکنوټونه وسوځول



د افغانستان بانک په راکړو ورکړو کې د آسانتیاوو رامنځته کولو په موخه وخت په وخت له اړوندو کړنلارو سره سم مندرس بانکنوټونه راټولوي او په بدل کې یې بازار ته نوي بانکنوټونه وړاندې کوي ترڅو هېوادوال د خپلو ورځنیو معاملو لپاره سالمو او نوو بانکنوټونو ته لاسرسی ولري.

په دې لړ کې، د ۱۴۴۷ کال د شعبان المعظم په ۱۴مه نېټه د ۵۸۸،۱۴۰،۰۰۰ (پنځه سوه اته اتیا میلیونه او یو سل و څلویښت زره) افغانیو په ارزښت له بازار څخه راټول شوي د افغانۍ زاړه بانکنوټونه د افغانستان بانک دویم مرستیال ښاغلي مُلا محمد آخند په مشرۍ د ګمارل شوي پلاوي تر څارنې لاندې له کره شمېرنې او کنټرول څخه وروسته د کابل ولایت په ده سبز ولسوالۍ کې وسوځول. په دې بانکنوټونو کې د (۱۰، ۲۰، ۵۰، ۱۰۰، ۵۰۰) افغانیو انواعیې شاملې وې.

همداراز، د ۱۴۴۷ کال د شعبان المعظم په ۲۰ مه نېټه له غرب زون څخه راټول شوي د ۵۳۷،۷۴۶،۰۰۰ (پنځه سوه اووه دېرش میلیونه اووه سوه او شپږ څلویښت زره) افغانیو په ارزښت د افغانۍ زاړه بانکنوټونه د افغانستان بانک دویم مرستیال ښاغلي مُلا محمد آخند په مشرۍ د ګمارل شوي پلاوي تر څارنې لاندې له کره شمېرنې او کنټرول څخه وروسته په هرات ولایت کې وسوځول شول. په دې بانکنوټونو کې د (۱، ۲، ۵، ۱۰، ۲۰، ۵۰، ۱۰۰، ۵۰۰، ۱۰۰۰) افغانیو انواعیې شاملې وې.

د افغانستان بانک دویم مرستیال ښاغلي ملا محمد آخند د بانکنوټونو د سوځولو د پروسې پر مهال وویل چې د مندرسو بانکنوټونو د سوځولو پروسه د بانک د دوامدارې ستراتیژۍ یوه برخه ده، ترڅو ولس د خپلو ورځنیو راکړو ورکړو لپاره د افغانۍ سالمو او نوو بانکنوټونو ته لاسرسی ولري. هغه زیاته کړه چې د مندرسو بانکنوټونو د سوځولو موخه د مالي نظام د شفافیت او د افغانۍ د اعتبار ساتنې په برخه کې یوه له مهمو پروسو څخه ګڼل کیږي. ښاغلي مُلا محمد آخند وویل چې د بانکنوټونو د سمې کارونې په برخه کې د هېوادوالو همکاري اړینه ده ځکه چې افغانۍ زموږ ملي پیسې دي او په سمه توګه کارول یې زموږ ملي مسئولیت دی.

د یادونې وړ ده چې مندرس بانکنوټونه د عدلیې او مالیې وزارتونو او د امنیتي ادارو استازو په شتون کې له بارولو څخه وروسته د ټاکل شوي پلاوي لخوا ځانګړو بټیو ته لېږدول کیږي او په یو وار سوځول کیږي.

# فعالیت‌ها و دست آوردهای د افغانستان بانک طی ربع اول سال ۱۴۴۷

نقش بانک های مرکزی در ثبات اقتصادی، مدیریت نشر پول، ثبات ارزش پول ملی و سکتور مالی در جهان امروز بیش از هر زمان دیگر برجسته شده است. کشورها ی جهان در شرایط پیچیده اقتصادی منطقه‌ای و جهانی، زمانی می‌توانند مسیر رشد و توسعه را با ثبات طی کنند که ستون های سیاست‌گذاری پولی، نظارت مالی، مدیریت نقدینگی و شفافیت نظام پرداخت های شان به درستی استحکام یافته باشد. د افغانستان بانک، به عنوان نهاد تنظیم‌کننده پولی و حامی اصلی ثبات مالی در کشور، در ربع اول سال ۱۴۴۷ مجموعه‌ای از فعالیت‌های مؤثر را به‌گونه هدفمند و مبتنی بر معیارهای مسلکی به اجرا گذاشته است که تأثیرات آن در ثبات قیم، سیاست های پولی، ثبات سکتور بانکی، بهبود زیرساخت ها و شفافیت نظام مالی و بانکی کشور قابل ملاحظه می باشد.

د افغانستان بانک طی ربع اول سال ۱۴۴۷ با استفاده مطلوب از ابزارهای سیاست پولی دست داشته، توانسته است هدف تعیین شده در جهت رشد پایه پولی را محقق و نقش مهمی در ثبات قیمت ها و جلوگیری از نوسانات ارزش پول افغانی، ایفا نماید که در کنار آن مدیریت دقیق پول در گردش و لیلام اسعار، زمینه دسترسی به ۵۰ درصد هدف تعیین‌شده برای رشد پول را فراهم کرده و باعث شده است که ارزش پول افغانی در برابر اسعار، باثبات باقی بماند. ثبات نرخ مبادله در ربع اول



سال ۱۴۴۷ بازتاب تلاش های مداوم کادر های مسلکی و مجرب د افغانستان بانک، مدیریت مسلکی ذخایر اسعاری و اعتماد بازار به سیاست‌های پولی کشور میباشد. در بخش نظارت بانکی، د افغانستان بانک با راه اندازی بررسی های همه جانبه، تعقیبی و غیرمترقبه، توانسته است ارزیابی دقیق سرمایه، نقدینگی، عملیات بانکی، مبارزه با پول شویی و عواید ناشی از جرایم و تکنالوژی معلوماتی بانک ها و مؤسسات مالی را انجام دهد که نتیجه این نظارت‌ها نشان می‌دهد که ثبات مالی، فعالیت ها و شفافیت سکتور بانکی نسبت به ربع های گذشته به صورت محسوس بهبود یافته است. تحلیل ۸۸ قضیهٔ مشکوک مالی و بررسی ۸۰ قضیه به درخواست ادارات تنفیذ قانون، گامی اساسی در تقویت مبارزه با پول شویی و عواید ناشی از جرایم به شمار میرود و نشان میدهد که سکتور بانکی کشور ظرفیت مسلکی لازم را داراست .

در تداوم این ربع، تکمیل و بهره‌برداری از سیستم مدیریت آموزش یکی از دست آوردهای مهم این دوره بود که امکان آموزش‌های معیاری، آنلاین و هدفمند را برای کارمندان سکتور بانکی فراهم ساخته است. وصل سیستم تادیات با سیستم آفمس وزارت محترم مالیه، گشایش یک تحول مهم در هماهنگی مالی و ارتقای شفافیت در امور مالی بود. دیجیتل‌سازی عواید دولتی نیز در این دوره به مرحله تطبیق عملی رسید که پرداخت‌های وزارت‌های محترم معارف، تحصیلات عالی، ترانسپورت، اداره ملی احصائیه و ریاست پاسپورت به‌گونه کامل الکترونیکی گردید. در بخش مدیریت پول فزیکی، نشر پول جدید و انتقال پول از مرکز به ولایات و برعکس موجب شد جریان نقدینگی به‌صورت متوازن و درست مدیریت شود و از تجمع غیرضروری پول در ولایات جلوگیری گردد. در کنار این، صدور ۲۸۵ جواز نمایندگی و ۴۵۸ جواز فعالیت برای شرکت‌های صرافی و خدمات پولی در سراسر کشور، زمینه گسترش خدمات مالی و افزایش دسترسی مردم به خدمات پولی را فراهم ساخته است. نظارت دقیق بر ۷۳۳ شرکت صرافی و توقف فعالیت ۳۴۹ شرکت بدون جواز نیز از اقدامات مهم در راستای ثبات بازار و جلوگیری از فعالیت‌های غیر اصولی است .

طی این ربع بخش بانکداری اسلامی نیز مورد توجه جدی قرار گرفت و ۸۴ گزارش دریچه های بانکداری اسلامی و ۱۴۴ گزارش مدغم شده بانک ها مورد تحلیل قرار گرفت تا دقت گزارش‌دهی و انطباق با طرزالعمل‌ها، تضمین گردد. افزون بر این، تکمیل وبسایت جدید بانک مرکزی، ایجاد سیستم جدید اِی آر پی برای نظارت بر مؤسسات مالی، و ایجاد سیستم تجدید نقده گامی مهم در راستای ارتقای شفافیت و تسریع فعالیت‌ها است.

د افغانستان بانک همچنین با اجرای ۲۶ فعالیت عمده براساس پلان سالانه و دستیابی به پیشرفت ۷۵.۲۲ ٪ در ربع، عملکردی متکی بر شفافیت و پاسخ‌گویی از خود به نمایش گذاشته است.

در کُل د افغانستان بانک در ربع اول سال ۱۴۴۷ با عملکرد مستند، هدف محور و مبتنی بر معیارهای مسلکی توانسته است نقشی برجسته در ثبات پولی، سلامت سکتور بانکی، کنترول نرخ تورم، توسعه زیرساخت‌های تخنیکی، دیجیتل سازی عواید دولتی و تقویت شفافیت نظام مالی کشور ایفا کند. این دست آوردها بیانگر ظرفیت، تعهد و توانایی د افغانستان بانک در مدیریت اقتصاد پولی کشور در شرایط متحول داخلی و منطقه‌ای است که میتواند به‌عنوان پشتوانه‌ای برای رشد اقتصادی، توسعه خدمات مالی و تقویت اعتماد عمومی در سطح ملی عمل نماید. فعالیت ها طی این ربع نشان داد که ثبات اقتصادی یک هدف محوری سکتور بوده که با سیاست‌گذاری دقیق، مدیریت بهتر و نظارت مطلوب، حصول گردیده است.

**محمد کاظم سروری**

**مدیر ارتباط رسانه ها، د افغانستان بانک**

# په افغانستان کې د مالي شمولیت خنډونه او فرصتونه

مالي شمولیت د اقتصادي ودې، د فقر د کمښت او مالي ثبات لپاره یوه مهمه وسیله ګڼل کېږي. خو د دقیقو څېړنو او د نړۍ د بېلابېلو هېوادونو د مالي ګډون اړوند د غوره کړنو د مطالعې او ارزونې له مخې ویلای شو چې یوازې مالي خدمتونو ته د لاسرسي زیاتوالی، پرته له دې چې له خدمتونو څخه د ګټې اخیستنې کیفیت او عامه باور په پام کې ونیول شي، دوامدارې پایلې نه شي تضمینولای. په دې مقاله کې د افغانستان ځانګړو اقتصادي او ټولنیزو شرایطو ته په کتو، د مالي شمولیت دودیز مفهوم له ظاهري لاسرسي څخه مانداره مالي ګډون ته د لوړولو په هکله بحث ترسره کیږي. په نړیواله کچه، مالي شمولیت دې ته ویل کېږي چې وګړي او تشبثات وکولای شي په مناسبه بیه رسمي مالي خدمتونو ته لاسرسی ولري. خو په هغو هېوادونو کې چې اقتصادي جوړښت یې تر ډېره پر نغدو پیسو، غیر رسمي او دودیزو مالي میکانیزمونو ولاړ وي، دا تعریف کافي نه ښکاري. د بېلګې په توګه ښایي په یوه هېواد کې زرګونه بانکي حسابونه پرانیستل شوي وي، خو که غیر فعال وي او ګټه ترې نه اخیستل کیږي، نو دا د مالي شمولیت په برخه کې ګټور نه بلل کیږي. دا واقعیت دا پوښتنه راپورته کوي چې آیا یوازې د بانکي حساب پرانیستل د واقعي مالي شمولیت معنا لري؟

د نړیوالو تجربو له مخې، مالي شمولیت درې اړوندې مرحلې لري:

- **لاسرسی:** د حساب یا مالي خدمت د ترلاسه کولو امکان
- **کارول:** له مالي خدمتونو څخه په



منظمه او دوامداره توګه کار اخیستل
• **کیفیت/اغېز :** اقتصادي وده او تولیدي فعالیتونه
تر هغه چې خلک له بانکي حسابونو څخه عملي ګټه وانخلي، مالي شمولیت یوازې یو احصاییوي شاخص پاتې کېږي او د خلکو پر اقتصادي وضعیت او ټولشموله مالي ګډون هېڅ ډول اغېز نه شي درلودای.

**د مالي شمولیت اساسي خنډونه:**

د مالي شمولیت اړوند بېلابېل خنډونه شتون لري خو تر ټولو مهم او اساسي خنډونه یې په لاندي ډول بیانولای شو:

**پر مالي بنسټونو بې باوري:**

کله چې بانکي او غیر بانکي مالي بنسټونه لازم او د اړتیا وړ مالي خدمتونه په سمه او اغېزمنه توګه وړاندې نکړي نو دا چاره د دې لامل ګرځي چې د رسمي مالي خدمتونو وړاندې کوونکو بنسټونو پر وړاندې په ټولیز ډول باور کم شي، او پېرودونکي اړ شي چې غیر رسمي مالي بنسټونو ته مخه کړي.

**دمالي او تخصصي پوهې ټیټه کچه:**

کله چې د مالي پوهې کچه کمه او تر ډېره په نظري بڼه محدوده پاتې شوې وي او د خلکو پر ورځنیو مالي پرېکړو اغېز ونلري، نو دا چاره د مالي شمولیت پر کچه منفي اغېز پرېښودلای شي.
مالي پوهه یوازې د مالي خدمتونو د ګټه‌اخیستونکو تر منځ نه، بلکې د مالي خدمتونو د برابرونکو پورې هم تړاو لري. د بېلګې په توګه، په مالي سکتور کې د کرنیز تمویل او وړو تمویلاتو د متخصصینو کمبود، د اړینو مالي محصولاتو نشتون او ورته نورې ستونزې.

**پر نغدو پیسو ولاړ اقتصاد:**

که چېرې یو اقتصاد تر ډېره پر نغدو پیسو ولاړ وي، له امله یې د بانکي خدمتونو اړتیا کمه احساسېږي او مالي جریانونه له رسمي سیستم څخه بهر پاتې کېږي. په دې حالت کې د خلکو لپاره د نغدو پیسو درلودل یوازې د تبادلې وسیله نه ، بلکې د ذهني امنیت سمبول وي.

**تخنیکي او زېربنایي محدودیتونه**

د مخابراتي شبکو کمزوري، د برېښنا نشتون، او د ډیجیټلي سواد ټیټه کچه د الکترونیکي او موبایلي مالي خدمتونو د پراختیا پر وړاندې جدي خنډونه ګڼل کیږي.

**د اسلامي مالي محصولاتو محدودیت**

په اسلامي هېوادونو کې اسلامي مالي خدمتونه غوره ګڼل کیږي. د شریعت مطابق د محصولاتو کمښت او د هغوی کمه تنوع کولای شي د مالي شمولیت مخه ونیسي.

**کمزورې تنظیمي او نظارتي چوکاټ**

د مالي نوښتونو، مالي ټکنالوژۍ وسیلو او لارو چارو، او نویو مالي محصولاتو لپاره د روښانه او انعطاف منونکي تنظیمي چوکاټ نشتون د مالي شمولیت د پراختیا په برخه کې خنډ ګرځېدلای شي.

**جغرافیایي ننګونې**

په لرې پرتو او کلیوالو سیمو کې د بانکي څانګو نشتون د مالي خدمتونو فزیکي لاسرسی په جدي ډول محدودولای شي. له بلې خوا، د نمایندە له لارې د بانکوالۍ نشتون د دې لامل ګرځېدلای شي چې یادې سیمې د اساسي مالي خدمتونو څخه بې‌برخې پاتې شي، چې دا چاره هم د مالي شمولیت د پراختیا پر وړاندې یو مهم خنډ ګڼل کېږي.

**په افغانستان کي د مالي شمولیت اړوند شته فرصتونه**

په هیوادکي مالي شمولیت اړوند د شته فرصتونو له جملې څخه یې د یو څو مهمو فرصتونو ته پاملرنه کولای شي د مالي شمولیت په برخه کي د پام وړ لاسته راوړني ولري:

**اسلامي بانکوالي**

اسلامي بانکوالي د افغانستان د ټولنیز باور، کلتوري ارزښتونو او د خلکو له

ديني عقايدو سره ژوره همغږي لري، او کولای شي د شراکت او د خطر د عادلانه وېش له لارې مالي شموليت پياوړی کړي. د کرنيز تمويل لپاره د اسلامي مالي محصولاتو پراختيا، لکه مشارکه، مضاربه او سلم، او همدارنګه د وړو، کوچنيو او منځنيو تشبثاتو لپاره د تخصصي اسلامي تمويلي محصولاتو شتون، کولای شي د اسلامي بانکوالۍ بنسټونه لا پياوړي کړي. دا چاره نه يوازې د مالي شموليت کچه لوړوي، بلکې په اوږد مهال کې د توليد، کارموندنې او عمومي اقتصادي هوساينې د ودې لامل هم ګرځي.

## مالي ټکنالوژي

مالي ټکنالوژي د مالي شموليت په پراخولو کې مهم رول لري، ځکه چې د موبايل بانکوالۍ، ډيجيټلي بټوو او آنلاين اداينو له لارې هغو خلکو ته مالي خدمتونه برابروي چې بانکونو ته لاسرسی نه لري. دا ټکنالوژي د لګښتونو په کمولو، د پيسو د لېږد په چټکتيا، او د کوچنيو او منځنيو تشبثاتو لپاره د آسانه تمويل په برابرولو سره د ټيټ عايد لرونکو خلکو ګډون زياتوي. سربېره پر دې، مالي ټکنالوژي د اسلامي مالي محصولاتو د وړاندې کولو، د مالي سواد د لوړولو او د شفافيت د پياوړتيا له لارې پر مالي نظام د خلکو باور زياتوي او د اقتصادي ودې لپاره زمينه برابروي.

## د کوچنيو او منځنيو تشبثاتو تمويل

د کوچنيو او منځنيو تشبثاتو مالي ګډون د هر هېواد د اقتصادي ودې او پايدار پرمختګ لپاره بنسټيز ارزښت لري. دغه تشبثات د بازار د تنوع، د کارموندنې د فرصتونو د زياتوالي، او د محلي اقتصادي فعاليتونو د پراختيا مهم محرکات ګڼل کېږي. تمويلونو او نورو رسمي مالي خدمتونو ته لاسرسی، کولای شي د دې تشبثاتو توليدي ظرفيت لوړ کړي. له همدې امله، د دغو تشبثاتو مالي ملاتړ چې د ښځو لخوا پر مخ وړل کېږي او آسانه مالي خدمتونه د پايدارې اقتصادي ودې لپاره حياتي رول لري.

## ملي تګلاره او بنسټيز ملاتړ

د افغانستان بانک د مالي شموليت د پراختيا په موخه ملي ستراتيژي طرحه کړې، ترڅو ټول وګړي، په ځانګړي ډول بزګران، سوداګر، او د وړو او منځنيو تشبثاتو خاوندان رسمي مالي خدمتونو او تمويلونو ته لاسرسی ومومي. دغه ستراتيژي د ډيجيټلي اداينو پراختيا، د بانکي خدمتونو پراخوالي، او د تشبثاتو او کرنيز تمويل د پياوړتيا لپاره روښانه لارښوونې برابروي. سربېره پر دې، د افغانستان بانک د مالي شموليت ځانګړې څانګه د آسانه، خوندي، ارزانه او دوامدارو مالي خدمتونو د ودې لپاره کار کوي، چې دا چاره د مالي ثبات او اقتصادي مشارکت د زياتوالي لامل ګرځي.

پورته فرصتونو ته په کتو دا روښانه ده چې افغانستان اوس مهال د مالي شموليت په برخه کې د پام وړ پرمختګ په حال کې دی. د اسلامي بانکوالۍ د ودې، د مالي ټکنالوژۍ د پراختيا، د کوچنيو او منځنيو تشبثاتو د ملاتړ، او د ملي تګلارې د بنسټيزو اقداماتو له لارې، هېواد مالي خدمتونو ته د ظاهري لاسرسي له مرحلې څخه د مانداره مالي ګډون پر لور روان دی. اسلامي مالي محصولات د خلکو له باور او کلتوري ارزښتونو سره ژوره همغږي لري، مالي ټکنالوژي د لرې پرتو سيمو لپاره د لاسرسي دروازې پرانيستلای شي، او د تشبثاتو تمويل د کارموندنې او توليدي فعاليتونو د پراختيا لامل ګرځي. سربېره پر دې، د افغانستان بانک د ملي ستراتيژۍ له لارې د مالي شموليت لپاره روښانه چوکاټ برابر کړی دی. دا ټولې هڅې ښيي چې افغانستان نه يوازې د مالي شموليت په برخه کې د خنډونو د له منځه وړلو لپاره کار کوي، بلکې په

تدریجي ډول د اقتصادي ودې، مالي ثبات او ټولشموله ګډون په لور د پرمختګ په حال کې دی.

**وړاندیزونه :**

د مالي شمولیت د اغېزمنې پراختیا لپاره لاندې وړاندیزونه کولای شي چې اغېزناک ثابت شي:

1. د مالي شمولیت د ارزونې معیارونه باید یوازې د حسابونو تر شمېر پورې محدود نه وي، بلکې د حسابونو د فعال استعمال، د مالي خدمتونو د کیفیت، او پر اقتصاد یې د واقعي اغېز شاخصونه پکې شامل وي.
2. د پېرودونکو د شکایتونو د ثبت او حل مؤثر میکانیزمونه، د خدمتونو روښوالی، او د پیرودنکو د حقونو جدي خوندیتوب کولای شي د رسمي مالي بنسټونو پر وړاندې د خلکو باور پیاوړی کړي.
3. د مالي پوهې عملي کول: د مالي پوهې پروګرامونه باید له نظري چوکاټه ووځي او د خلکو له ورځنیو مالي اړتیاوو، کرنیزو فعالیتونو، او تشبثي پرېکړو سره وتړل شي. همدارنګه، د کرنیز تمویل او کوچنیو، وړو او منځنیو تشبثاتو لپاره د مسلکي کادرونو روزنه ضروري ده.
4. د شریعت مطابق د متنوع اسلامي مالي محصولاتو پراختیا، په ځانګړي ډول د کرنې او وړو تشبثاتو لپاره، کولای شي د هغو وګړو مالي ګډون زیات کړي چې د بانکي خدمتونو له کارولو څخه ډډه کوي.

**د مالي ټکنالوژۍ او ډیجیټلي مالي خدمتونو تنظیم او ملاتړ**: د مالي ټکنالوژۍ لپاره د انعطافمنونکي، روښانه او نوښتګر تنظیمي چوکاټ رامنځته کول، د موبایلي او الکترونیکي ادراینو پراختیا، او د ډیجیټلي سواد لوړول کولای شي په لرې پرتو سیمو کې مالي شمولیت پراخ کړي. د ډیجیټلي ادراینو هڅونه، د دولتي ادراینو او معاشونو الکترونیکي کول، او د غیر نغدي معاملو لپاره تشویقي میکانیزمونه کولای شي خلک ورو ورو له نغدي اقتصاد څخه رسمي مالي نظام ته راوباسي.

**حیات‌الله توفان**

**د وړو،کوچنیو ، منځنیو تشبثاتو او کرنیز تمویل لوی مدیر،**

**د افغانستان بانک**


**ماخذونه:**

1. افغانستان بانک) .۱۴۰۱ .(**د مالي شمولیت ملي ستراتیژي** .کابل: افغانستان بانک.
2. افغانستان بانک) .۱۴۰۰ .(**د بانکي او غیر بانکي مالي سکتور کلنی راپور** .کابل: افغانستان بانک.
3. نړیوال بانک (World Bank). (2018). **Financial Inclusion Overview**. Washington, DC: World Bank Group.
4. نړیوال بانک (2022). **Enhancing Financial Inclusion in Fragile and Conflict-Affected States**. Washington, DC.
5. د ملګرو ملتونو د پراختیا پروګرام (UNDP). (2021). **Financial Inclusion and Poverty Reduction**. New York: UNDP.
6. د اسلامي مالي خدماتو بورډ (IFSB). (2019). **Islamic Finance and Financial Inclusion**. Kuala Lumpur.
7. د اسلامي پرمختیایي بانک (IsDB). (2020). **Islamic Finance for Agriculture and SMEs**. Jeddah: Islamic Development Bank.
8. CGAP. (2017). **Digital Financial Services and Financial Inclusion**. Washington, DC.
9. Demirgüç-Kunt, A., Klapper, L., Singer, D., & Ansar, S. (2021). **The Global Findex Database: Financial Inclusion**. World Bank.
10. OECD. (2019). **Financing SMEs and Entrepreneurs**. Paris: OECD Publishing.



# احیای امید و اشتغال؛ طرح بازسازی سکتور زراعت و سیستم‌های غذایی افغانستان

**(این مقاله از ویبلاگ انگلیسی بانک جهانی ترجمه شده است)**

در سال های اخیر، بازگشت گسترده مهاجرین از پاکستان و ایران، فشار تازه‌ای بر نظام‌های غذایی و معیشتی افغانستان وارد کرده است. بسیاری از عودت‌کنندگان با دارایی‌های اندک و بدون پشتوانه وارد کشور می‌شوند و ناچار به اتکای جدی بر کمک‌های خارجی هستند؛ وضعیتی که هم بازار کار را تحت فشار قرار می‌دهد و هم ذخایر غذایی خانواده‌ها را سریع‌تر کاهش می‌دهد. تنها در سال ۲۰۲۵، حدود ۲.۱ میلیون افغان از این دو کشور بازگشتند، و این موج عظیم در زمانی اتفاق افتاد که سطح کمک‌های بشردوستانه رو به کاهش است.

علاوه بر این، در میان کشورهای که بیشترین خطر مواجه با بحران‌های ناشی از تغییرات اقلیمی را تجربه می کنند، افغانستان در جایگاه چهارم قرار گرفته و به عنوان هفتمین کشور آسیب‌پذیر با کمترین ظرفیت مقابله شناخته می‌شود. شدت و فراوانی خشکسالی‌ها نیز به‌طور قابل توجهی افزایش یافته است: اگر در سال‌های ۱۹۸۶ تا ۲۰۱۲ به‌طور متوسط هر سه سال یک‌بار خشکسالی رخ می‌داد، این رقم در سال‌های ۲۰۱۳ تا ۲۰۲۳ به هر دو سال یک‌بار رسیده است.

خشکسالی طولانی و تشدیدیافته که اکنون حداقل ۱۹ ولایت را تحت تأثیر قرار داده، باعث از بین رفتن گسترده محصولات زراعتی و چراگاه‌ها شده و زمین‌های زراعتی و للمی را تحت فشار قرار داده است. هم‌زمان، سیلاب‌های ویرانگر در ولایت‌های چون بغلان، تخار، بدخشان و غور، خانه‌ها، زمین‌های زراعتی و حیوانات اهلی را نابود کرده‌اند و بیش از نیم میلیون نفر را آواره ساخته است. از اثر آن، خانواده‌ها ناچار شده‌اند زمین‌های خود را ترک کنند و در جستجوی غذا، آب و سرپناه به مناطق دیگر مهاجرت کنند، امری که ناامنی غذایی را در میان جوامع آسیب‌پذیر تشدید کرده است.

علاوه بر این، زمین‌لرزه‌های مانند آنچه در ماه‌های اگست و سپتمبر ۲۰۲۵ رخ داد، اوضاع را وخیم‌تر می‌کند؛ زیرا محصولات و ذخایر غذایی را از بین می‌برد، مواشی را نابود می‌کند، جاده‌ها

و بازارها را آسیب می‌زند و مانع رسیدن کمک‌ها به مناطق دورافتاده می‌شود. این رویدادها، در کنار خشکسالی و بازگشت مهاجرین، فشار بر معیشت و امنیت غذایی مردم را چند برابر کرده و شمار افراد در معرض گرسنگی و سوءتغذیه را در سراسر کشور افزایش داده است.

افغانستان سال‌هاست که برای مقابله با گرسنگی به کمک‌های اضطراری بشردوستانه متکی بوده و در کوتاه‌مدت، چنین حمایت‌های همچنان ضروری و حیاتی‌اند. با این حال، این رویکرد سال‌هاست که نتوانسته راه حلی پایدار ارائه دهد. وابستگی بیش ازحد به کمک‌های کوتاه‌مدت می‌تواند چرخه‌ای از وابستگی ایجاد کند و تاب‌آوری محلی را تضعیف نماید. بدون حرکت به سمت سرمایه‌گذاری‌های بلندمدت و سیستم‌محور در سکتور زراعت و انکشاف دهات، علل اساسی گرسنگی، آسیب‌پذیری در برابر تغییرات اقلیمی، زیرساخت‌های ناکافی و بازارهای توسعه‌نیافته، ادامه یافته و بحران غذایی شدت خواهد یافت.

با این حال، در دل این بحران‌ها فرصتی برای تحول و اقدام وجود دارد، فرصتی که نه از طریق افزایش کمک‌های اضطراری، بلکه با سرمایه‌گذاری‌های بلندمدت و هوشمندانه در برابر تغییرات اقلیمی قابل تحقق است. چنین رویکردی می‌تواند افغانستان را به سوی خودکفایی غذایی هدایت کند، اقتصاد محلی را تقویت نماید و تاب‌آوری پایدار در برابر بحران‌ها بسازد. این همان چشم‌انداز و وعده‌ای است که پلان عملیاتی زراعتی هوشمند اقلیمی افغانستان به ارمغان می‌آورد و مسیر کشور را از وابستگی کوتاه‌مدت به امنیت غذایی پایدار هموار می‌سازد.

پلان عملیاتی زراعتی هوشمند اقلیمی افغانستان، طرحی مهم و آینده‌نگر است که مسیر تحول سکتورهای زراعت و امنیت غذایی کشور را ترسیم می‌کند. این پلان بر راه‌حل‌های عملی و فراگیر تمرکز دارد که حتی در شرایط شکننده نیز مؤثرند: استفاده از بذرهای مقاوم در برابر خشکسالی، بهبود سیستم‌های آبیاری، ایجاد سیستم‌های مواشی مقاوم در برابر تغییرات اقلیمی، نصب سردخانه‌های خورشیدی، حمایت از گروه‌های تولیدی محلی و تولیدکنندگان زن، و ارتقای دسترسی به بازارهای محلی و منطقه‌ای. این طرح تأکید می‌کند که دهاقین، به‌ویژه زنان و جوانان، تنها قربانیان تغییرات اقلیمی نیستند؛ بلکه با دریافت امکانات و حمایت مناسب، می‌توانند محرک و سازندهٔ تحول در سکتورهای زراعت و معیشت کشور باشند.

یکی از امیدوارکننده‌ترین نتایج پلان عملیاتی زراعتی هوشمند اقلیمی افغانستان در دورهٔ ده‌سالهٔ تطبیق آن، ظرفیت ایجاد ۷.۴ میلیون شغل جدید است؛ ٦٥ درصد افزایشِ که از راه سرمایه‌گذاری در کشت، پروسس و انتقال به دست می‌آید. بیشتر این مشاغل (٦.٩ میلیون) در زمین‌های زراعتی به‌وجود خواهد آمد؛ جایی که نیاز به درآمد و تاب‌آوری بیش از هر جای دیگر است.

اهمیت این روند در آن است که رهبری ایجاد مشاغل به‌جای دولت یا نهادهای خارجی، در دست بازیگران سکتور خصوصی قرار می‌گیرد؛ بازیگرانی چون شرکت‌های زراعتی، گروه‌های تولیدی محلی و کسب‌وکارهای کوچک دهاتی که بیشترین شناخت را از نیازهای واقعی مردم دارند و قادرند راه‌حل‌های بومی را در مقیاس بزرگ ارائه کنند. مشاغل اضافی نیز در بخش پروسس محصولات زراعتی و لوژستیک دهاتی ایجاد خواهد شد و فرصت‌ها را در سراسر زنجیرهٔ عرضه گسترش خواهد داد.

برای جوانان نیز، این طرح فرصت‌های تازه‌ای می‌آفرینند؛ از نقش‌آفرینی در زراعت میکانیزه و تکنالوژی‌های دیجیتل زراعتی گرفته تا تولیدات باغداری با روش‌های پیشرفته و خدمات حیوانی. بر بنیاد پیش‌بینی‌ها، اشتغال جوانان از ٦.٢ میلیون به

۱۰.۸ میلیون افزایش خواهد یافت. این‌ها تنها »شغل «نیستند، بلکه معیشت‌های آبرومندانه‌ای هستند که حاشیه‌نشینی را کاهش داده و امید و افق تازه‌ای برای نسل جوان ایجاد می‌کنند.
پلان عملیاتی زراعتی هوشمند اقلیمی افغانستان فرصت‌های گسترده‌ای برای تأمین مالی اقلیمی نیز ایجاد می‌کند، زیرا دارای مزایای محیط‌زیستی چشم‌گیری است. اقداماتی چون بهبود مدیریت زمین، احیای جنگل‌ها و مالداری پایدار می‌تواند در جریان اجرای برنامه تا ۳۷۵ میلیون تن کاهش انتشار گازهای گلخانه یی به همراه داشته باشد. در کنار آن، فعالیت‌های مانند احیای چراگاه ها، مدیریت و ادغام درختان، محصولات و حیوانات اهلی در یک قطعه زمین، و زرع مجدد زمین‌ها و تپه‌های آسیب‌دیده ظرفیت بالای برای جذب و ذخیرهٔ کاربن ایجاد می‌کنند.
این تدابیر نه تنها به مهار تغییرات اقلیمی کمک می‌کنند، بلکه سلامت خاک را بهبود می‌بخشند، منابع آب را محافظت می‌کنند و برای تنوع زیستی و جوامع محلی منافع پایدار به همراه دارند. از همین رو، این پلان یکی از گزینه‌های بسیار جذاب برای تأمین مالی اقلیمی مبتنی بر نتایج به‌شمار می‌رود.
نقش سکتور خصوصی نیز به همان اندازه حیاتی است. در زمانی که خدمات دولتی با محدودیت روبه‌رو هستند و بودجه‌های کمک‌رسانی رو به کاهش است، این کسب‌وکارهای محلی‌اند که بار اصلی تاب‌آوری را به دوش می‌کشند. از عرضه‌کنندگان واترپمپ‌های خورشیدی و ارائه‌کنندگان خدمات پس از برداشت، تا پروسس‌کنندگان میوه، سردخانه‌ها، شرکت‌های بسته‌بندی و شبکه‌های توزیع، همه به ستون‌های کلیدی تقویت سیستم غذایی تبدیل شده‌اند. این کسب‌وکارها نه تنها خلأهای اساسی در زنجیرهٔ زراعتی را پُر می‌کنند، بلکه شغل ایجاد می‌نمایند، خسارات را کاهش می‌دهند و دسترسی دهاقین به بازارها را آسان‌تر و مؤثرتر می‌سازند.
پلان عملیاتی زراعتی هوشمند اقلیمی افغانستان از این ظرفیت استفاده می‌کند و با ایجاد رشد فراگیر سکتور خصوصی از طریق شراکت‌های دولتی - خصوصی، تأمین مالی ترکیبی و حمایت ویژه از کسب‌وکارها، آن را تقویت می‌کند. این پلان وابستگی را نه بل نوآوری و سرمایه‌گذاری مشترک را تشویق می‌نماید؛ و مودل تازه و پایدار برای توسعه در محیط‌های شکننده ارائه می‌دهد.
موضوع فقط غذا نیست؛ بلکه مربوط به ثبات، عزت و امید است. سرمایه‌گذاری در زراعت هوشمند و اقلیم یک تجمل نیست، بلکه ضرورت آیندهٔ افغانستان است. این سرمایه‌گذاری فرصت فراهم می‌کند تا از رسیدگی به بحران به سوی تقویت تاب‌آوری و از وابستگی به خوداتکایی حرکت کنیم. با حمایت مناسب، افغانستان نه تنها بحران غذایی خود را پشت سر خواهد گذاشت، بلکه بنیاد یک اقتصاد محلی عادلانه‌تر، پایدارتر و مقاوم‌تر را نیز خواهد گذاشت.
اکنون زمان اقدام فرا رسیده است. امکانات، دانش و ستراتیژی‌ها آماده‌اند. چیزی که نیاز است رهبری، سرمایه‌گذاری و تعهد جمعی از سوی افغانستان، تصمیم‌گیرندگان و جامعهٔ بین‌المللی است تا این چشم‌انداز به واقعیت مبدل شود.
نویسندگان: ادیمولا بریموح، امان الله علم‌زی، نجم الدین نجم
مترجم: سید آصف فکرت: عضو بورد ترجمه د افغانستان بانک

منبع:

1.Growing Hope and Jobs: A roadmap to sustainably revitalize Afghanistan's agriculture and food systems

# په هېواد کې نوې فابریکې او د ځانبسیاینې انگېزې

صنعت او تولید د هر هېواد د اقتصادي ودې او پرمختیا د ملا تېر بلل کېږي. افغانستان چې له څو لسیزو وروسته د بیارغونې نوي پړاو ته داخل شوی او د نوي اقتصاد محوره افغانستان پر لور بنسټیز گامونه اخلي، د کورني تولید د پراختیا او اقتصادي ځانبسیاینې لپاره یې د نویو فابریکو جوړولو ته مخه کړې ده. دا بهیر نه یوازې دا چې اقتصادي ثبات راولي، بلکې د بې کارۍ کمولو او د ملي عوایدو په ډېرولو کې هم مهم او اساسي رول لري.

په دې وروستیو کلونو کې چې په افغانستان کې امنیت او ثبات راغلی، د مرکز په گډون په بېلابېلو ولایتونو کې د سمنټو، خوراکي توکو پروسس کولو، ودانیزو چارو، پلاستیکي توکو، حیواني محصولاتو، بېلابېلو درملو او کرنیزو محصولاتو د پروسس فابریکې جوړې شوې دي. د دې فابریکو په وده او پراختیا سره به د هېواد اساسي اړتیاوې په کور دننه پوره شي او د گاونډیو هېوادونو سیمې او نړۍ څخه به پر وارداتو تکیه راکمه شي. کله چې هېواد خپل درمل، خوراکي توکي، ودانیز توکي او جامې تولید کړي نو اقتصادي ټیکاو ته نږدې کېږي او د بهرنیو هېوادونو لخوا پر هېواد اقتصادي او سیاسي فشار کمېږي او بیا هېوادونه نشي کولای چې ترانزیتي لارې د فشار د وسیلې په توگه وکاروي.

د نویو فابریکو جوړول ډېرې گټې او مثبتې اغېزې لري، د نویو فابریکو جوړولو سره د کورني تولید کچه لوړېږي، ملي عواید ډېرېږي او د اسعارو د وتلو مخنیوی کوي. له ټولنیز اړخه هم



زرګونو هېوادوالو ته د کار زمینه برابره شوې، چې دا کار د بې وزلۍ په کمېدو کې ډېره مرسته کوي. سربېره پردې، تولیدي پرمختګ د مسلکي مهارتونو د ودې سبب ګرځي او ځوانان عملاً تخنیکي زده کړو ته هڅوي.

د ځانبسیاینې او پر پردیو د اتکا نه کولو انګېزه، په دې وروستیو کې د ځینو ترانزیتي لارو بندېدو سره رامځنته شوې چې په کور دننه یې د تولید او اقتصادي خپلواکۍ ملي انګېزه پیاوړې کړې ده نو پر همدې بنسټ په ګران هېواد کې د ځینو نویو فابریکو رامنځته کېدل د دې موخې اساسي ګام دی.

**ننګونې**

سره له دې چې په هېواد کې د ځانبسیاینې، تولید او پر پردیو د تکیې نه کولو انګېزه پیاوړې شوې خو دا ملي بهیر ځینې ستونزې او ننګونې هم لري، لکه د برېښنا کمښت یا نشتوالی، د پانګونې کمښت، د تخنیکي کادرونو کمښت او کورني تولید باندې د باور رامنځته کول او په دې اړه عامه پوهاوی، هغه ننګونې دي چې حل لارو او جدي پاملرنې ته اړتیا لري.

په همدې اړه د کابل، هرات، ننګرهار، بلخ او کندوز ولایتونو صنعتکاران او د فابریکو خاوندان د برېښنا له کمښت څخه سر ټکوي، خو اړونده چارواکو یې په دې اړه د اوږدمهاله حل لارو ژمنې کړې او ځینې فابریکو ته دا لړۍ آسانه شوې هم ده. همدارنګه د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت، د صنعت او سوداګرۍ او مالیې وزارتونو تولیدي فابریکو ته ځینې آسانتیاوې او معافیت هم چمتو کړې دی، خو د ځینو فابریکو د برېښنا ستونزې لا بشپړې نه دي حل شوې.

**هیلې او انګېزې**

د معلوماتو له مخې دمګړۍ په هېواد کې شاوخوا 6000 صنعتي فابریکې فعالیت کوي او په 130 سکتورونو کې بشپړه او په 100 نورو برخو کې جزوي ځانبسیاینه ترلاسه شوې ده. د دې فابریکو او کارخونو له لارې بېلابېل توکي لکه اوړه، غوړي، مالګه، درمل، اوسپنه، سمنټ، فولاد، برونز او ځینې نور خوراکي او غیر خوراکي توکي تولیدېږي.

د احصایې او معلوماتو ملي ادارې، سوداګرۍ او کار او ټولنیزو چارو وزارتونو د رسمي شمېرو له مخې د دې فابریکو د فعالیت په پایله کې 135000 افغانانو ته مستقیمې دندې برابرې شوې دي، چې دا د بې کارۍ د کچې کمېدو په برخه کې ډېره مهمه ونډه لري.

په ورته وخت کې د نویو کارخونو او فابریکو جوړولو او کار یوه مهمه ګټه داده چې وارداتي تکیه کموي، کورنیو تولیداتو ته وده ورکوي او د اسعارو د دود مخه نیسي چې پایله کې د صنعت او تولید وده ملي عواید لوړوي او اقتصادي ثبات سره مرسته کوي. اقتصادي کار پوهان ټینګار کوي چې برېښنا، مالي آسانتیاوو، خوندیتوب او صادراتي بازار ته د لاسرسي په برخه کې نورې هڅې هم باید ترسره شي تر څو تولیدات مو نړیوالو مارکیټونو ته هم صادر شي او صنعتي او تولیدي پراختیا لا پیاوړې شي.

د امارتي چارواکو، په ځانګړې ډول د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال، له صنعتکارانو غوښتي چې تولیدات دې د نړیوالو معیارونو سره سم وي. دا خبره په هغه صورت کې ارزښتناکه ده چې افغانستان غواړي د سیمې او نړۍ بازارونو ته لار ومومي. د کیفیت لوړوالی به نه یوازې د صادراتو دروازې پرانیزي، بلکې د کورني مصرف کوونکو باور به هم زیات کړي. حکومت باید د نندارتونونو او نورو هڅوونکو پروګرامونو له لارې پر هېوادنیو تولیداتو د باور لوړولو لپاره کوټلي او رغنده ګامونه پورته کړي.

**پایله**

د فابریکو او تولید اوسني پرمختګونه د

هېواد د اقتصادي ځانبسیاینې د لا بریا او پرمختیا لپاره هیله بخښونکي دي.

په افغانستان کې د فابریکو جوړول د صنعتي سکتور د ودې لپاره یو مهم گام بلل کېږي، خو دا سکتور یو لړ بنسټیزې ستونزې هم لري، لکه د برېښنا، پانگې، ټکنالوژۍ او نړیوالو بازارونو ته د لاسرسي کموالی. د نویو فابریکو جوړولو سره د کورني تولید کچه لوړېږي، ملي عواید ډېرېږي او د اسعارو د وتلو مخنیوی کېږي. له ټولنیز اړخه هم زرگونو هېوادوالو ته د کار زمینه برابرېږي. د پاکستان هېواد لارو بندېدو سره په هېواد کې د ځانبسیاینې او ځاني اتکا ملي انگېزه پیاوړې شوې او دا چاره کولای شي اوږد مهال کې د بهرنیو توکو په وارداتو کې کموالی راولي، تولید ډېر شي، پر داخلي تولیداتو د ولس باور لوړ شي او پایله کې د ملي اقتصاد او ځانبسیاینې د پیاوړتیا په برخه کې ډېر مهم رول ولري.

**لیکنه: امېد حیران، د افغانستان بانک د عامه پوهاوي ارشد آفیسر**

---

**سرچینې:**

1. د ریاست الوزراء اقتصادي چارو د مرستیال دفتر.(۲۰۲۵) د اقتصادي نوښتونو او عامه نظریاتو د دویمې ربعې راپور (له ۲۲ جون تر ۲۲ سپتمبر ۲۰۲۵).
https://dpmea.gov.af/sites/default/files/2025- %B1%20%D8%B1%D8%A7%D9%BE%D9%88%D8%B1.pdf.
2. باختر خبري آژانس. (۲۰۲۵، د جون ۲۸) .افغانستان په ۱۳۰ صنعتي سکتورونو کې بشپړه ځانبسیاینه ترلاسه کړه.
https://www.bakhtarnews.af/en/afghanistan-reaches-full-self-sufficiency-in-130-sectors/
3. شینهوا خبري آژانس. (۲۰۲۵، د جون ۲۸). افغانستان په ۱۳۰ سکتورونو کې بشپړ ځان بسیاینې اعلان کړه، د نورو پرمختگونو په تمه دی.
https://english.news.cn/20250628/28621223659f4cc7bffb9bfc30eb183f/c.html
4. امید راډیو. (۲۰۲۵، د جون ۲۸) .د اقتصادي چارو مرستیال دفتر: افغانستان په ۱۳۰ تولیدي برخو کې ځانبسیاینې ته ورسېد.
https://omidradio.com/en/2025/06/28/office-of-deputy-pm-for-economic-affairs-afghanistan-achieves-self-sufficiency-in-130-production-sectors/
5. پژواک خبري آژانس. (۲۰۲۵، د جون ۲۸) .افغانستان د ۱۳۰ توکو تولید او خودکفایي.
https://pajhwok.com/2025/06/28/afghanistan-reaches-self-sufficiency-in-production-of-130-items/
6. کُرسیف مېډیا. (۲۰۲۵، د جون ۲۹) .اسلامي امارت: افغانستان په ۱۳۰ صنعتي برخو کې د ځانبسیاینې هڅې.
https://uz.kursiv.media/en/2025-06-29/afghanistan-achieves-self-sufficiency-in-130-industries-says-islamic-emirate/



# از کمپ های مؤقت تا محلات پایدار: چگونگی سیر تحول بی‌جاشدگان در شهرهای افریقا

**(این مقاله از ویبلاگ انگلیسی بانک جهانی ترجمه شده است)**

در جریان بازدید از پروژه‌ها در سومالیا، سودان جنوبی و اتیوپیا، بارها یک وضعیت تکراری را مشاهده کردیم: آنچه که هنوز «کمپ» می‌نامیم، دیگر با گزارشهای ارائه‌شدۀ سازمان‌های مددرسان مطابقت ندارد. در محلاتی که زمانی خیمه‌ها بودند، اکنون بازارها بوجود آمده است. همچنان، ورکشاپ‌ها یا مراکز آموزش حرفه در کنار غرفه‌های غذا ایجاد شده‌اند و مکاتب در هر دو سوی مرزهای قدیمی فعالیت می‌کنند. تفاوت میان «کمپ »و «شهر» به‌سرعت در حال از میان رفتن است، در حالی‌که اکثر پالیسی‌ها هنوز این تحول را به رسمیت نشناخته و بر تفکیک‌های قدیمی استوار اند.

اگر قرار باشد این موضوع را به سادگی در خانواده توضیح دهیم می‌گوییم: جاهایی که قبلاً به‌عنوان محل‌های موقت می‌پنداشتیم، اکنون عملاً به بخش‌های از شهرهای واقعی تبدیل شده‌اند.

شش دولت در کشور های افریقایی این واقعیت را درک کرده اند و این «کمپ‌ها» را به‌عنوان شهر های پایدار بشری در حال ظهور می بینند. همین تفاوت میان اصطلاح و واقعیت باعث شد تا والیان، پلان‌گذاران و مقامات ملی و محلی را از کشورهای چون؛ موریتانیا، چاد، ایتوپیا، کینیا، موزامبیک و سومالیا برای شرکت در اکادمی یادگیری شهرها و شهرک ها،



سکونت‌های انسانی پایدار در شرایط شکننده، درگیری و خشونت گرد هم آوریم که به‌گونه مشترک از سوی کمیشنری عالی سازمان ملل متحد در امورپناهندگان و برنامه اسکان بشر ملل متحد (یو ان هبیتات) در نایروبی برگزار شد.

پرسش عملی مطرح‌شده در ظاهر ساده اما در ماهیت پیچیده بود: اگر جابه‌جایی‌ها ماهیت بلندمدت و عمدتاً شهری داشته باشند، اغلب به شکل‌گیری تجمع‌های نوین شهری بانجامند و هم‌زمان منابع مالی با محدودیت مواجه باشد، در این صورت چه پیامدی خواهد داشت اگر کمپ‌ها دیگر به‌عنوان استثناهای موقت تلقی نشوند و به‌جای آن به‌مثابه محلات نوظهور در نظر گرفته شوند؟

**نمونهٔ عینی این وضعیت در عمل**

با جابه‌جایی بیش از ۱۰۰ میلیون نفر در سطح جهان و فشار بر منابع مالی، برنامه قدیمی اتکا به نظام‌های موازی بشردوستانه و کمپ‌های دائمی تحت حمایت نهادهای مددرسان دیگر کارآیی ندارد. این ناهماهنگی در شهر بایدوآی سومالی از نزدیک مشاهده گردید. بیش از ۱۰۰ هزار نفر از افراد جابه‌جاشده سال‌ها در حومهٔ شهر زندگی می‌کردند. نهادهای بشردوستانه در آنجا مکاتب، کلینیک و منابع آب را برای مردم ایجاد و به بهره برداری سپردند، در حالی که شهرداری مدیریت »شهر قدیمی «را بر عهده داشت. دو نظام به‌صورت موازی در کنار هم فعالیت می‌کردند و هر دو به کمبود منابع مواجه بودند. همچنان، خشکسالی و منازعه مردم بیشتری را به این مناطق می‌راند و فشار بر زمین روزبه‌روز افزایش می‌یافت.

آغاز این تحول با اقدامی که در ظاهر اداری به نظر می‌رسید مشاهده گردید، مانند؛ توزیع تذکره و تولد کارت، همراه با مدارک ساده و موقت مربوط به زمین. زمانی که مردم به این اسناد ابتدایی دست یافتند، توانستند حساب‌های بانکی باز کنند، سیم‌کارت بدست آورند، به تمویلات خرد دسترسی پیدا کنند، فرزندان خود را در امتحانات ملی شامل سازند و سرمایه‌گذاری در خانه و کسب‌وکارهای پایدارتر را آغاز نمایند. پس از آن، شهرداری به صورت مشترک همراه با ساکنان اصلی و بی‌جاشدگان، برای بهبود بازارها و ارتقای خدمات آب و حفظ‌الصحه برنامه‌ریزی نمود.

شاروال در توضیح اهمیت بیشتر امنیت حق تصرف زمین اظهار داشت: زمین را به‌صورت رایگان در اختیار آن‌ها (مهاجرین) قرار می‌دهیم تا بتوانند بدون نگرانی از اخراج، به‌گونهٔ پایدار در جامعه ادغام شوند.

این ارقام داستان قانع‌کننده‌ای را بیان می‌کند. در دهلیز کاکومه–کالوبیه‌یی در کنیا، صندوق چالش نهاد مالی بین المللی ۱۲۶ شرکت را مورد حمایت قرار داد که اکنون تقریباً ۳ درصد اشتغال رسمی ولایت ترکانا را تشکیل می‌دهد. هنگام بازدید از بازار در آن‌جا، دیگر احساس نمی شد که این یک »عمل کمک‌رسانی« باشد؛ بانک‌ها نمایندگی‌های خود را باز کرده و شرکت‌های انرژی در حال ایجاد زیرساخت‌های دایمی‌اند. آنچه زمانی یک مداخلهٔ محدود کمک‌رسانی بود، اکنون به یک اقتصاد سالانهٔ ۵۶ میلیون دالری تبدیل شده است.

**قرار دادن حکومت‌های محلی در محراق توجه**

یک نکته که در تمام کشورها بارها تکرار شد این بود که سیستم‌ها و برنامه‌های پایدار در سطح شاروالی‌ها تعیین می‌شوند، نه در دفاتر مرکزی یا تالارهای کنفرانس. در جریان «اکادمی یادگیری» در نایروبی، نقش‌ها عمداً تغییر کرد: والیان و مدیران شاروالی در صف نخست نشستند و سایر افراد عملاً

دور آن نقشه‌ها جمع می‌شدند. هنگامی که حکومت‌های محلی دارای صلاحیت، عواید و حمایت قابل پیش‌بینی باشند، به بازیگران قدرتمند در مسیر شمولیت اجتماعی تبدیل می‌شوند. زیرا آن‌ها نخستین پاسخ‌دهندگان روزمره به نیازهای هر دو گروه، ساکنان اصلی و بی‌جاشدگان، هستند.

**سیستم خدماتی معیاری، نه دو سیستم موازی**

ما مشاهده کردیم که یکی از چالش‌های دوامدار، جدایی میان سیستم‌های خدماتی بشردوستانه و دولتی است. نهادهای بشردوستانه مکاتب، مراکز صحی و تأسیسات آب‌رسانی را در داخل و اطراف کمپ‌ها اداره می‌کنند، در حالی که سیستم‌های دولتی به سایر مردم خدمات عرضه می‌کنند. این وضعیت در ماه‌های نخست بحران قابل درک است، اما زمانی که جابه‌جایی مردم به دهه‌ها طول بکشد، پر هزینه و ناعادلانه می‌شود. در عین حال یک نکته مثبت نیز وجود دارد، و این است که دولت ها با حمایت قوی از سوی شراکت سه‌جانبه شروع به کاهش این فاصله کرده است.

حمایت بانک جهانی ما در برخی از این کشورها به موارد ذیل کمک می‌کند: تلاش اخیر سومالیا برای توزیع تذکره به بی‌جاشدگان داخلی، برنامه‌های آزمایشی ایتوپیا برای صدور اسناد هویت برای پناهندگان، و ادغام آمار و ارقام پناهندگان در آمارهای ملی کنیا. این اقدامات گام‌های حیاتی به سوی آن چیزی است که کارشناسان متخصص و کارشناسان انکشاف آن را »شمولیت احصائیوی «می‌نامند – یعنی شامل کردن جمعیت بی‌جاشده در آمار و ارقام که روی تصمیم‌گیری در مورد پالیسی و سرمایه‌گذاری تأثیر می‌گذارد. این امر کمک می‌کند تا پناهندگان در مکاتب دولتی و برنامه‌های حمایت اجتماعی شامل شوند. اصل اساسی ساده است: کودکی که در سکونت‌گاهی خارج از بیدوآ زندگی می‌کند، همان حق دسترسی به صنف درس را دارد که کودکی در مرکز شهر از آن برخوردار است.

**نگاه به آینده**

هیچ‌کس در آن نشست باور نداشت که چند نمونهٔ امیدوارکننده می‌تواند تصویر کلی را در یک لحظه تغییر دهد. کمبود منابع مالی واقعی است و شوک‌های اقلیمی ادامه دارد و چارچوب‌های نهادی و قانونی هنوز به‌گونهٔ کامل امکان چنین تغییری را فراهم نکرده‌اند. همچنان، خطرات سیاسی تا هنوز رفع نشده و نگرانی های امنیتی روند ادغام را پیچیده می سازد. اما همین امر اهمیت اجندای مطرح‌شده در نشست جهانی پناهندگان در ژنو در ماه دسمبر را نشان می‌دهد. کشورها نشان دادند که امکان گذار از برنامه های کوتاه مدت به برنامه‌های دراز مدت و از پروژه های پراکنده به سوی پلتفارم های مشترک میان دولت ها، کمیشنری عالی سازمان ملل در امور پناهندگان، برنامه اسکان بشر ملل متحد بانک جهانی و سایر شرکاء وجود دارد.

ما امیدواریم این تجارب در تدوین ستراتیژی آیندهٔ بانک جهانی برای کشورهای متأثر از بی‌ثباتی، بحران و خشونت شامل شوند. اگر به‌گونهٔ درست و مشترک عمل کنیم، ده یا پانزده سال بعد دیگر کسی در این مناطق در باره «کمپ‌ها» صحبت نه خواهد کرد؛ بلکه از محلات عادی افریقایی سخن خواهند گفت که در زمینه تبدیل نمودن آوارگی اجباری به آغاز یک خانهٔ واقعی و مشترک، کار خارق العاده‌ای انجام خواهند داد.

**نویسندگان:** ابهاس جها، سوریا گوگا، وبانچي تیسو واکویا و ډویگو اوگور

**ترجمان:** فاتح الله صافی، عضو بورد ترجمه د افغانستان بانک

منبع:

1. https://blogs.worldbank.org/en/africacan/from-camps-to-neighborhoods-how-african-cities-are-reshaping-displacement

# اقتصادي خبرونه

**تبادلات تجارتی ایران و افغانستان از مرز سه و نیم میلیارد دالر گذشت**

نمایندگان دولت ایران در هرات از افزایش حجم کالاهای تجارتی میان دو کشور خبر داده، می‌گویند که در سال جاری به ارزش بیش از سه و نیم میلیارد دالر اموال تجارتی میان دو کشور مبادله شده است. از سوی هم، مسئولان در هرات، یکی از عوامل افزایش مبادلات تجارتی را در تامین امنیت در کشور و همچنان ایجاد خطوط آهن عنوان می کنند. مسئولان کنسولگری دولت ایران در هرات، از افزایش حجم مبادلات کالا های تجاری میان افغانستان و ایران خبر داده می گویند که در سال ۱۴۰۴حجم تجارت میان دو کشور به بیش از سه و نیم میلیادر دالر رسیده است. علی رضا مرحمتی سرکنسول دولت ایران در هرات می گوید:" ما تجار خیلی خوبی با افغانستان داریم در سال ۱۴۰۳سه و نیم میلیادر دالر تبادلات صورت گرفته است و در سال جاری این رقم بیشتر شده است، اگر خطوط آهن که کار آن جریان دارد فعال شود، میزان تجارت میان دو کشور بیشتر می شود". از سوی هم، مسئولان در هرات افزایش داد و ستد تجاری میان دو کشور را تایید کرده علت آن را در تامین امنیت پس از به قدرت رسیدن امارت اسلامی در افغانستان، ایجاد خطوط آهن میان دو کشور و همچنین رشد تولیدات داخلی در شهرک صنعتی هرات عنوان می کنند. محمد ناصر امین، رئیس اتاق صنایع و معادن هرات می گوید:" در چهار سال که امارت اسلامی در افغانستان به قدرت رسیده است، کار تجارت میان ایران و افغانستان زیاد شده است، بیشتر واردات در مورد شهرک صنعتی باید گفت مواد خام و ماشینری است و صادرات هم میوه خشک، تولیدات هرات است".

با این حال کارشناسان امور اقتصادی در کنار استقبال از افزایش سطح تجارت بر گسترش روابط تجاری، متوازن و هدفمند با کشور های منطقه تاکید دارند. به باور آگاهان امور اقتصادی، ثبات در سیاست های تجاری، حمایت از سرمایه گذاران، ایجاد تسهیلات بانکی و گمرکی می تواند روند روبه رشد تجارت با ایران و سایر کشور های منطقه را پایدار تر سازد. بهاء الدین رحیمی آگاه امور اقتصادی در این باره می گوید:" ما یک کشور مصرفی بودیم و فعلا ما یک کشور صادر کننده هستیم، به همان میزان که صادرات زیاد شود به همین میزان پول و اقتصاد کشور رشد می کند، نیاز است دولت از سرمایه گذاران بیشتر حمایت کند و روابط تجاری را دیگر کشور را قوی سازد".

گفتنی است که بر اساس معلومات ارایه شده از سوی سرکنسول دولت ایران در هرات، حجم مبادلات تجاری میان ایران و افغانستان در سال های گذشته کمتر از دو نیم میلیارد دالر بوده است.



**د افغانستان د وچې مېوې په صادراتو کې ډېروالی راغلی**

د صنعت او سوداګرۍ وزارت د معلوماتو له مخې، له هېواد د وچې مېوې په صادراتو کې د

پام وړ ډېروالی راغلی دی. جلغوزي، انځر، بادام، پسته، چهارمغز، ممیز او وچ زردالو د افغانستان د وچو مېوو له مهمو صادراتي توکو څخه شمېرل کېږي چې د تېر میلادي کال پر مهال د دغو محصولاتو صادرات زیات شوي دي. د صنعت او سوداګرۍ وزارت مسوولان وايي، افغانستان په ۲۰۲۵ میلادي کال کې نږدې ۲۰۵ زره ټنه وچې مېوې صادرې کړې چې ارزښت یې ۶۶۷ میلیونه ډالرو ته رسېده. د دغه وزارت شمېرې ښيي چې د انځر، ممیز، بادام، پستې او جلغوزیو صادرات د تېر کال په پرتله له دربیو تر ۳۴ میلیونه ډالرو پورې زیات شوي دي.

ورته مهال، د یاد وزارت ویاند، اخندزاده عبدالسلام جواد وویل: «دا توکي ایران، متحده عربي اماراتو، ترکیې، پاکستان، فرانسې، هالند، روسیې، تاجیکستان، چین، انګلستان، استرالیا او نورو هېوادونو ته د نږدې ۲۰۵ زره ټنه وزن او د ۶۶۷ میلیونه ډالرو په ارزښت صادر شوي دي.» سره له دې چې د صنعت او سوداګرۍ وزارت شمېرې د وچو مېوو د صادراتو د زیاتوالي ښکارندویي کوي، خو د وچو مېوو د صادروونکو ټولنه وايي چې د ویزو ستونزې، بانکي بندیزونه او په چابهار او واګه بندرونو کې ترانزیتي ننګوني هغه لاملونه دي چې لا هم د هېواد د ارزښتناکو وچو مېوو پر صادراتو یې سیوری غوړولی دی. د کابل د وچو مېوو د صادروونکو ټولنې ویاند، احمد خالد رحماني وايي: «د افغان صادروونکو لپاره د کافي آسانتیاوو نشتون لامل شوی چې زموږ یو شمېر سوداګر د نړۍوالو ندارتونونو په ګډون، له بهرنیو پېرېدونکو سره په لیدنو کتنو او د خپلو سوداګریزو قضیو په تعقیب کې له محدودیتونو سره مخ شي.» همدارنګه افغان سوداګر، عزم‌الدین خنجاني وویل: «موږ نورې لارې هم لرو؛ په ځانګړي ډول خپله اروپا، امریکا، کاناډا، عربي هېوادونو او اوزبېکستان ته صادرات لرو او همدارنګه د ایران د بندر عباس او دوغارون بندرونو له لارې هم صادرات ترسره کېږي. دا مهال د چابهار په مسیر کې ډېرې ستونزې رامنځته شوې دي او هیله لرو چې حل شي. «دا په داسې حال کې ده چې تر دې وړاندې د ریاست‌الوزرا اقتصادي معاوونیت د پاکستان له لارې هند ته د وچو مېوو د صادراتي لارو د تړل کېدو له امله، له آریانا هوایي شرکت څخه غوښتي وو چې د لېږد لګښتونه راکم او د دغو محصولاتو د صادراتو لپاره ځانګړې چارټر الوتکه ځانګړې کړي.

**په ۲۰۲۵ او ۲۰۲۴ کلونو کې د وچو مېوو د صادراتو پرتله**

| توکی | ارزښت په ۲۰۲۵ | ارزښت په ۲۰۲۴ |
|---|---|---|
| ممیز | ۱۸٦ میلیونه ډالر | ۱۵۲ میلیونه ډالر |
| انځر | ۲۸۷ میلیونه ډالر | ۱٦٦ میلیونه ډالر |
| پسته | ٦۲ میلیونه ډالر | ۳۸ میلیونه ډالر |
| بادام | ۵۵ میلیونه ډالر | ۴٦ میلیونه ډالر |
| وچ زردالو | ۵۰ میلیونه ډالر | ۳۰ میلیونه ډالر |
| جلغوزي | ۱۵ میلیونه ډالر | ۱۲ میلیونه ډالر |



**سرچینې:**

۱- رادیو کلید، 23 شعبان المعظم 1447 (1404/11/23) / ۲- طلوع نیوز، 1447 شعبان المعظم 16 (51404/11/1)

# د غیر بانکي مالي مؤسسو وده او د مالي ثبات پر وړاندې نوي خطرونه

(دا مقاله د پیسو نړۍ وال صندوق له ویب پاڼې څخه ژباړل شوې ده)

پالیسي جوړوونکي باید غیر بانکي مالي مؤسسې تر جدي څار لاندې ونیسي، ځکه چې د یادو مؤسسو او بانکونو ترمنځ پر زیاتیدونکو دوه اړخیزو اړیکو منفي مالي شوکونه لا پسې شدید او پراخه شوي دي.

د اقتصادي ناڅرګندتیا د زیاتېدو پر مهال د شتمنیو د لوړې بیې او په مهمو بازارونو کې د دولتي پور پاڼو فشارونو د مالي ثبات خطرونه لوړ او دوامداره ساتلي دي. یاد خطرونه او زیانمننتیا ښايي د غیر بانکي مالي مؤسسو له ودې سره لا زیاتې شي، ځکه چې یادې مؤسسې په بازار جوړونه، د خصوصي پورونو په بازار کې د نغدینګۍ د تأمینولو او منځګړیتوب، د ملکیت (جایدادونو) او کریپټو په بازارونو کې ورځ تر بلې مهم رول خپلوي.

څرنګه چې د نړۍ وال مالي ثبات په نوي راپور کې روښانه شوې د فشار آزموینې ښیي چې د غیر بانکي مالي مؤسسو خطرونه په چټکۍ سره اصلي بانکي سیستم ته لیږدیدلای شي چې په پایله کې مالي ټکانونه لا پسې زیاتوي او د کړکیچ مدیریت پیچلی کوي.

غیر بانکي مالي مؤسسې له ډېرې مودې راهیسې د پالیسي جوړوونکو تر څار لاندې دي چې په کې د بیمې شرکتونه، د تقاعد صندوقونه او د پانګونې صندوقونه شامل دي. که څه هم غیر بانکي مالي مؤسسې امانتونه نه اخلي، خو په نړۍ والو بازارونو کې یې رول په دوامداره توګه پر زیاتېدو دی. د مقرراتو پلي کول په پراخه کچه توپیر لري؛ د بیمې شرکتونه تر ځانګړو څارنیزو چوکاټونو لاندې فعالیت کوي، حال دا چې د ګڼو نورو غیر بانکي مالي مؤسسو مقرراتي څارنه بشپړه او هر اړخیزه نه ده.

که له یوې خوا غیر بانکي مالي مؤسسې د پانګې بازار د کړنو په



آسانولو او پور اخیستونکو ته د پورونو په برابرولو کې مرسته کوي، خو له بلې خوا د یادو مؤسسو وده او پراختیا په مالي نظام کې د خطر منلو کچه زیاتوي. اوس مهال، غیر بانکي مالي مؤسسې په ټولیزه توګه د نړۍ د مالي شتمنیو شاوخوا نیمایي برخه په خپل واک کې لري. همداراز، په متحده ایالتونو او یورو سیمه کې ډېری بانکونه د غیر بانکي مالي مؤسسو اړوند خطرونه لري چې دا خطرونه د یادو بانکونو د لومړۍ کټګورۍ پانګې په پرتله زیات دي. لومړۍ کټګورۍ پانګه له بانکونو سره د زیانونو په جذبولو او د کړکیچ په حالت کې ثابت پاتې کیدلو کې مرسته کوي. په ورته وخت کې، اوس مهال غیر بانکي مالي مؤسسې د بهرنیو اسعارو په بازار کې د ورځنۍ سوداګرۍ نیمایي برخه جوړوي چې دا د ۲۵ کاله وړاندې په پرتله د دوی له ونډې څخه دوه برابره زیاتوالی ښکاره کوي، لکه څرنګه چې د نړۍ وال مالي ثبات په راپور کې راغلي دي.

**د بانکونو د غیر بانکي مالي مؤسسو د اړوند خطر او د ونډه لرونکو د پانګې نسبت، سلنه**




هغه بانکونه چې د غیر بانکي مالي مؤسسو د اړوند خطر پر بنسټ له تر ټولو لوړ څخه تر ټولو ټیټ پورې درجه بندي شوي دي

سرچینې: د متحده ایالتونو د مالي مؤسسو د څارنې فدرالي شورا؛ فیچ کونیکټ او د پیسو د نړۍ وال صندوق د کارکوونکو اټکلونه

په مالي منځګړیتوب کې یاد بدلون د خطرونو د ارزونې په موخه یو هر اړخیز او ستراتیژیک میتود ته اړتیا لري. د بانکونو برعکس، ډېری غیر بانکي مالي مؤسسې تر نسبتاً ساده او آسانو څارنیزو مقرراتو لاندې فعالیت کوي. سر بېره پر دې، ډېری غیر بانکي مالي مؤسسې د خپلو شتمنیو، پور اخیستنو او نغدینګۍ په اړه محدود معلومات وړاندې کوي چې له امله یې د خطرونو او د متقابلو اړیکو کشفول ستونزمن کېږي.

ځینو څارنیزو ادارو په ځانګړې توګه په بریتانیا او آسترالیا کې د ټول نظام په کچه د فشار د آزموینو او د سناریو د تحلیل مدغم کول یو ځای پیل کړي دي، تر څو د بانکونو او غیر بانکي مالي مؤسسو ترمنځ تعاملات په ښه ډول درک کړي. دې هڅو غوره معلوماتو، په کورنۍ او بهرنۍ کچه پیاوړې همغږۍ او مقرراتي نوښتونو ته اړتیا څرګنده کړې ده تر څو له بدلونونو سره همغږي پاتې شي.

غیر بانکي مالي مؤسسې کولای شي د ګڼو کانالونو لکه د خصوصي پورونو، املاکو او کریپټو شتمنیو له لارې خطرونه مالي نظام ته ولېږدوي چې دا ټول د پالیسي جوړونکو ځانګړې پاملرنې ته اړتیا لري. یو له دې کانالونو څخه چې د نړۍ وال مالي ثبات په راپور کې راغلی، پر بانکونو باندې اغېز دی. د څو کلونو راهیسې د پیسو نړۍ وال صندوق د بانکي سکتور د پیاوړتیا د ارزونې لپاره د فشار نړۍ والې آزموینې کاروي. دا ځل آزموینې د شوکونو پر بنسټ یو ماډل وړاندې کوي چې اقتصادي رکود، لوړ انفلاسیون او په دولتي پور پانګو باندې زیاتېدونکي عواید سره یو ځای کوي. د فشار آزموینې پایله ښیي، هغه بانکونه چې د نړۍ والو شتمنیو شاوخوا ۱۸ سلنه په واک کې لري، د ونډه لرونکو د پانګې د لومړۍ کټګورۍ نسبتونه به یې تر ۷ سلنې راښکته شي. که څه هم دا پایلې د پخوانیو ارزونو په پرتله ښه والی ښکاره کوي، خو دا آزموینې د سیستم دننه د کمزورو بانکونو یوه فرعي برخه څرګندوي.

د بانکونو او غیر بانکي مالي مؤسسو ترمنځ د زیاتېدونکو اړیکو د

معلوموملو لپاره مو د فشار د آزموينې په پروسه کې يو نوی تحليلي پړاو ورزيات کړی چې پر خپريدونکو خطرونو تمرکز لري. پايلې يې د پام وړ دي: د غير بانکي مالي مؤسسو په برخه کې منفي بدلونونه لکه د کريډيټ د ډلبندۍ د ادارو لخوا د کريډيټي درجو راټيټول يا په تضمين کې د اړينو شوو شتمنيو ارزښت راټيټېدل، د بانکونو پانګې او نغدي نسبتونه په جدي توګه اغېزمنولای شي.

د فشار د آزموينې په يوه فرضي سناريو کې چې په کې غير بانکي مالي مؤسسې د بانکونو په پرتله زيات خطر مني او د بانکونو لخوا ورکړل شوي د پور اعظمي کچه کاروي، د شتمنيو له مخې به نږدې ۱۰ سلنه امريکايي بانکونه او ۳۰ سلنه اروپايي بانکونه د مقرراتي پانګې نسبتونه له ۱ سلنې څخه زيات کموالی ومومي. يا په بله وينا، کله چې غير بانکي مالي مؤسسې له فشار سره مخ شي، نو د بانکونو زيانونه او د پانګې کموالی په چټکۍ سره زياتېږي او دا څرګندوي چې د غير بانکي سکتور زيانونه او خطرونه له يو بل سره تړلي دي. يادې ستونزې په چټکۍ سره اصلي بانکي سيستم ته ليږديدلای شي چې شوکونه زياتوي او د کړکيچ مديريت پيچلی کوي.

**د غير بانکي مؤسسو مالي فشارونه د بانکونو د پورونو د ورکړې وړتيا اغېزمنولای شي**

**په نمونه کې د بانکونو ونډه او د ټولټال شتمنيو سلنه**




**سرچينې:** د متحده ايالتونو د مالي انسټيټيوټونو د څارنې فدرالي شورا، د اروپا د بانکوالۍ اداره، د پيسو د نړۍ وال صندوق د کارکوونکو محاسبه. ياد ګراف د ۲۰۲۵ کال د دويمې ربعې د ډېټا پر بنسټ جوړ شوی او د يورو د سيمې ۱۰۹ بانکونه او د متحده ايالتونو ۳۶۲ بانکونه رانغاړي. ټکانونه داسې فرضيه رامنځته کوي چې د غير بانکي مالي مؤسسو د خطر اندازه له ۲۰ سلنې څخه تر ۵۰ او ۱۰۰ سلنې پورې لوړيږي او د پور له ټاکلې کچې بشپړه ګټه اخلي.

يوه بله وسيله چې له لارې يې غير بانکي مالي مؤسسې په مالي نظام فشار زياتولی شي؛ د اصلي پور پانو (بانډ) بازارونه دي چې د لوړ کيفيت، د پانګونې د درجې او ثابت عايد لرونکې بيه لرونکې پاڼې دي چې د پراخو مالي بازارونو لپاره د معيارونو په توګه کارول کيږي. يوه لاره چې ياد حالت په کې رامنځته کېدای شي هغه د پرانيستي پای لرونکو پانګونو صندوقونو کې د نغدينګۍ نا برابري ده، دا هغه وخت رامنځته کېږي چې پانګوال خپلې ونډې په چټکۍ سره وپلورلای شي، خو هغه شتمنۍ چې پانګوال ته د پيسو د بيرته ورکولو لپاره پلورل کېږي، د پلور لپاره ډېر وخت ته اړتيا لري. کله چې د بازار بې ثباتي لوړه شي، نو د پانګوال لخوا د پيسو بيرته اخيستل او د دلال لخوا د اضافي پيسو غوښتل کولای شي ياد صندوقونه دې ته اړ باسي تر څو خپلې تر ټولو نغدې شتمنۍ وپلوري.

د متحده ايالتونو د متنوع پانګونو د صندوقونو اړوند د نړۍ وال مالي ثبات تحليل ښکاره کوي چې که د بهرني جريان بنه د ۲۰۲۰ کال د مارچ مياشتې له کړکيچ سره ورته وي او د سود کچه د 0.8 سلنې په اندازه لوړه شي، نو په جبري ډول د پور پاڼو د پلور اندازه نږدې ۲۰۰ ميلياردو ډالرو ته رسېدلی شي چې دري پر څلورمه برخه به يې د خزانې بيه لرونکې پاڼې وي. په خورا شديدو حالتونو کې، ياد پلور کولای شي د معاملو کوونکو د منځګړيتوب ظرفيت له حد څخه زيات او د بازار فعاليت ګډوډ کړي او حتی اغېز يې د تمويل بازارونو ته هم خپور شي. دا پايلې د دې اهميت روښانه کوي چې د متنوع پانګونو صندوقونه بايد د نغدينګۍ د مديريت کافي وسايل ولري، تر څو د جبري پلور خطر راکم کړي.

د دولت د پور پاڼو په بازارونو کې د غير بانکي مالي مؤسسو پراخه ګډون مثبتې اغېزې هم لري لکه څرنګه چې د نړۍ وال مالي ثبات په راپور کې ښودل شوي دي. د پياوړو بنسټونو لرونکو غوړېدونکو

بازارونو له کورنیو غیر بانکي مالي مؤسسو لکه د تقاعد صندوقونو او د بیمې له شرکتونو څخه په خپلو محلي اسعارو پورونه اخیستل زیات کړي دي. د غیر بانکي مالي مؤسسو لخوا په غوړېدونکو اقتصادونو کې د پور پانګو پر زیاتیدونکې ونډه د نغدینګۍ له ښه والي سره هم مهاله او تصادفي ده، حال دا چې د پور پانګو بازارونه له نرۍ والو شوکونو سره مخ دي او احتمال لري چې له بانکونو څخه د حکومت د پور اخیستنې تکیه راکمه کړي.

خو دا هم مهمه ده چې د کورنیو او بهرنیو غیر بانکي مالي مؤسسو ترمنځ توپیر وشي. بهرنۍ مؤسسې په غوړېدونکو بازارونو کې د اصلي پانګوالو په توګه پاتې دي. یادې پانګې هغه وخت بېرته ترلاسه کېدای شي چې کله بازارونه بې ثباته شي چې په پایله کې د غوړېدونکو بازارونو په مالي وضعیت باندې فشار واردوي. دا پدې معنی ده چې د غیر بانکي مالي مؤسسو بهرنۍ اغېزې باید په ښه ډول درک او وڅېړل شي.

**د پالیسۍ لومړیتوبونه**

مالي ثبات په غوره پالیسیو او پیاوړو مؤسسو پورې تړلی دی. غوره او محتاطې مالي او پولي پالیسۍ، د بهرنۍ نا برابرۍ محدودیتونه لکه د جارې حساب کسر او بهرني پورونه، د وروستي پور ورکوونکي اغېزناک میکانیزم او د نغدینګۍ بیړنۍ مرستې لا هم اړینې دي. په ورته وخت کې، د غیر بانکي مالي مؤسسو د زیاتېدونکي رول په ترڅ کې، پالیسۍ جوړوونکي باید د مالي سیستم د مرکزي برخو پاینښت او غښتلتیا لا پیاوړې کړي.

د فشار د نړۍ والې ازموینې موندنه چې ګڼ بانکونه لا هم زیانمنونکي پاتې دي، د دې اړتیا په ګوته کوي چې د نړۍ والو منل شوو معیارونو په ځانګړې توګه د بازل ۳ په پلي کولو سره پانګه او نغدینګۍ لاپسې پیاوړې کړي. د کمزورو بانکونو لخوا له خپرېدونکو مالي زیانونو او ستونزو څخه د بانکي سکتور ساتنه؛ د بانکونو د رغښت او د ستونزو د حل د چوکاټ د جوړولو او د مرکزي بانکونو د نغدینګۍ د بېړنیو مرستو د پیاوړتیا له لارې ترسره کېدای شي.

د غیر بانکي مالي مؤسسو زیاتیدونکې اهمیت او له بانکونو سره یې اړیکې د پیاوړې څارنې اړتیا رامنځته کوي. دا پدې معنی ده چې باید هر اخیزه ډېټا راټوله شي، په راتلونکي تمرکز لرونکي تحلیلونه لکه د ټول سیستم د نغدینګۍ د وضعیت آزموینې ښې او اصلاح شي او د اړونده سکتور د څارونکو ترمنځ همغږي پیاوړې شي.

خصوصي پورونه جدي څارنې ته اړتیا لري. په وروستیو کلونو کې د غیر بانکي مالي مؤسسو پور ورکوونکو په ځانګړي ډول د خصوصي پور صندوقونو چټک پرمختګ کړی دی چې له امله یې د مالي ثبات خطرونه زیات شوي ځکه چې د یادو پورونو روڼتیا کمه او په جدي توګه یې تنظیم او څارنه نه ترسره کیږي. په پای کې، د غیر بانکي مالي مؤسسو د نغدینګۍ د فشارونو او په جبري ډول د پور پانګو د پلور د کنټرول لپاره اړینه ده چې د پرانیستي پای لرونکو پانګونو د صندوقونو لپاره د نغدینګۍ د مدیریت د وسایلو شتون او کارونه ښه او پراخه شي.

**لیکوال: توبیاس اډریان**

**ژباړن: محمد فاروق تسل د افغانستان بانک د ژباړې د بورد غړی**

---

سرچینه:

1- Growth of Nonbanks is Revealing New Financial Stability Risks, IMF BLOG

# په معاصر اقتصاد کې د برېښنايي پيسو نوښت، ګټې او ننګونې

برېښنايي يا اليکترونيکي پيسې هغه ډول پيسې دي چې په ډيجيټلي بڼه ساتل کېږي او د فزيکي بانکنوټونو او سکو پر ځای د برېښنايي وسايلو له لارې کارول کېږي. دا پيسې د بانکونو، ډيجيټلي بټوو، موبايل اپليکيشنونو او د اداينو ځانګړو سيستمونو کې د پولي واحد پر بنسټ خوندي کېږي او د کاروونکو ترمنځ د تبادلې وسيله ګرځي. د برېښنايي پيسو مفهوم د نړيوالو مالي نظامونو د پرمختګ او د ټکنالوژۍ د پراختيا له امله رامنځته شوی، چې د سوداګری، بانکي خدمتونو او ورځني ژوند په ټولو برخو کې يې آسانتيا او چټکتيا رامنځته کړې ده.

## د برېښنايي پيسو ګټې

د برېښنايي پيسو کارول نه يوازې د تبادلې پروسه چټکه، خوندي او موثره کړې، بلکې د نغدو پيسو د انتقال ستونزې يې هم کمې کړې دي. په معاصر اقتصاد کې، برېښنايي پيسې د نړيوالو بازارونو د انسجام، د نوښتګرو مالي وسايلو د رامنځته کېدو او د شفافو معاملاتو د تضمين په برخه کې مهم رول



لوبوي. له همدې امله، د برېښنايي پيسو موضوع د اقتصاد پوهانو، مالي ادارو او عامو خلکو لپاره د بحث او څېړنې يوه مهمه برخه ګرځېدلې ده. برېښنايي پيسې د کاغذي پيسو د محدوديتونو او لوړو لګښتونو د حل لپاره يو اغېزناک بديل ګڼل کېږي، ځکه چې د وخت د ضايع کېدو مخه نيسي، د غلا او ورکيدو خطر کموي او هر ځای او هر وخت د پيسو لېږد ممکنوي. د دې پيسو ځانګړتيا دا ده چې د فزيکي شتون اړتيا نه لري او ټولې معاملې د موبايل، کمپيوټر او انټرنيټ له لارې په څو ثانيو کې ترسره کېږي. په بانکونو کې د اوږدو قطارونو، د کاغذي اسنادو د ساتلو او د نغدو پيسو د انتقال ستونزې د برېښنايي پيسو په وسيله حل کېدلای شي، ځکه چې دا سيستم د چټکتيا، خونديتوب او شفافيت ضمانت کوي.

برېښنايي پيسې د مالي شموليت لپاره يو ستر فرصت ګڼل کېږي. په ډېرو ټولنو کې داسې خلک شته چې بانکوالۍ ته لاسرسی نه لري، يا د جغرافيايي محدوديتونو، لوړو لګښتونو او د اړينو اسنادو د نشتوالي له امله له رسمي مالي نظام څخه بهر پاتې دي. د موبايل بټوو، ډيجيټلي اداينو او نوښتګرو اپليکيشنونو له لارې، دغه کسان کولای شي په آسانۍ سره د پيسو د انتقال، سپما او اداينو په پروسه کې برخه واخلي. دا چاره نه يوازې د هغوی د ورځيني ژوند آسانتياوې زياتوي، بلکې د اقتصادي ودې لپاره هم ګټوره ده، ځکه چې ګڼ شمېر خلک د توليد، مصرف او پانګونې په جريان کې شاملېږي. د مالي شموليت پراخوالی د ټولنيز عدالت او د فرصتونو د برابرۍ په برخه کې مهم رول لوبوي. کله چې هغه وګړي چې بانکي خدمتونو ته لاسرسی نلري، د ډيجيټلي مالي وسايلو له لارې په رسمي نظام کې شامل شي، هغوی ته د زدکړې، روغتيا، سوداګرۍ او د ژوند د نورو اړينو برخو لپاره د مالي سرچينو لاسرسی آسانيږي. په دې توګه، برېښنايي پيسې نه يوازې د اقتصاد د عصري کېدو نښه ده، بلکې د ټولنيز پرمختګ او د بې عدالتۍ د کمېدو لپاره هم يوه اغېزناکه وسيله ده.

## نړيوالې بېلګې

په نړيواله کچه، د برېښنايي پيسو د کارونې تجربې ښيي چې د موبايل اداينو له لارې د افريقا، آسيا او نورو سيمو ميليونونه وګړي د لومړي ځل لپاره په رسمي مالي نظام کې شامل شوي دي. د کينيا هېواد د ايم پيسه سيستم د يوې بريالۍ بېلګې په توګه يادېږي. د دې خدمت له لارې، هغه وګړي چې بانکي حسابونه نه لري، کولای شي د موبايل تليفون په وسيله پيسې انتقال کړي، سپما وکړي او د ورځنيو اړتياوو لکه د برېښنا بلونو او ښوونځي فيسونو اداينه ترسره کړي. دې نوښت د کينيا د اقتصاد په وده کې ستر رول لوبولی او د مالي شموليت کچه يې په بې‌ساري ډول لوړه کړې ده.

همداراز، په هند کې، د يو پي آی په نوم ډيجيټلي اداينيز سيستم د خلکو لپاره د ورځنيو اداينو او سوداګريزو معاملو پروسه ډېره ساده کړې ده. د دې سيستم له لارې، حتی هغه کسان چې بانکي حسابونه نه لري، کولای شي د موبايل اپليکيشنونو په کارولو سره د پيسو لېږد او اداينه ترسره کړي. دا بدلون د کوچنيو سوداګرو او د کليوالو سيمو د اوسېدونکو لپاره د پرمختګ يوه مهمه وسيله ګرځېدلې ده.

په پاکستان کې، د ايزي پيسه او جاز کيش په څېر موبايل بټوې د هغو کسانو لپاره چې د بانکونو څانګو ته لاسرسی نه لري، د مالي خدمتونو نوې دروازې پرانيستلې دي. د دغو خدمتونو له لارې، خلک کولای شي چې د برېښنايي اداينو په مرسته د خپلو ورځنيو اړتياوو لکه د کورنۍ ملاتړ، د روغتيايي خدمتونو فيسونه او د سوداګرۍ وړې معاملې په خوندي ډول ترسره کړي. دا ډول تجربې ښيي چې برېښنايي پيسې د هغو ټولنو لپاره چې د بانکوالۍ محدودې زيربناوې لري، د پرمختګ




یوه مهمه دروازه پرانیزي. د ډیجیټلي اداینو پراخوالی نه یوازې د اقتصادي ودې لپاره ګټور دی، بلکې د ټولنیز عدالت، د فرصتونو د برابرۍ او د محرومو قشرونو د ځواکمنېدو لپاره هم حیاتي ارزښت لري.

**ننګونې**

د برېښنايي پیسو د نوښت ترڅنګ ځینې ننګونې هم شته چې د دې سیستم د پراخې کارونې پر وړاندې جدي خنډونه جوړوي. تر ټولو مهمه ستونزه د سایبري امنیت ده، ځکه چې د هکرانو بریدونه، د شبکې نیمګړتیاوې او د شخصي معلوماتو غلا د کاروونکو باور زیانمنوي او د مالي زیانونو لامل کېدای شي. د برېښنايي پیسو د خوندي کارونې لپاره د قوي پاسورډونو، د معلوماتو د محرمیت ساتنې او د امنیتي پروتوکولونو پلي کول اړین دي. سربېره پر دې، د بېلابېلو هېوادونو د قوانینو او مقرراتو توپیر د نړۍوالې همغږۍ اړتیا لا زیاتوي، ځکه چې د یوې واحدې نړۍوالې تګلارې نشتوالی د سرحدونو هاخوا د پیسو د لېږد پر روښتیا او اعتبار اغېز کوي. د مرکزي بانکونو لپاره دا یوه حیاتي موضوع ده چې څنګه د نوښت ملاتړ وکړي او د ډیجیټلي مالي وسایلو پراختیا ته زمینه برابره کړي، خو په ورته وخت کې د مالي ثبات، د پولي سیاستونو د اعتبار او د مشتریانو د حقونو ساتنه یقیني کړي. په همدې توګه، د برېښنايي پیسو راتلونکی د ټکنالوژۍ د پرمختګ ترڅنګ د نړۍوالو قوانینو د همغږۍ او د امنیتي تدابیرو د پیاوړتیا پورې تړلې دی، ترڅو د دې نوښت ګټې د ټولنې ټولو قشرونو ته ورسېږي.

**لیکنه:** سید خالد خالقیار، د افغانستان بانک د نشراتو ارشد آفیسر


**اخذلیکونه:**

1. Al-Laham, M., Al-Tarawneh, H., & Abdallat, N. (2009). Development of electronic money and its impact on the central bank role and monetary policy. *Issues in Informing Science and Information Technology, 6*(1), 339–349. https://doi.org/10.28945/1063
2. Chaum, D. (1982). Blind signatures for untraceable payments. In *Advances in Cryptology: Proceedings of CRYPTO '82* (pp. 199–203). Springer.
3. Committee on Payments and Market Infrastructures. (2015). *Digital currencies*. Bank for International Settlements. https://www.bis.org/cpmi/publ/d138.pdf
4. Jack, W., & Suri, T. (2011). Mobile money: The economics of M-Pesa. *NBER Working Paper No. 16721*. National Bureau of Economic Research. https://doi.org/10.3386/w16721
5. Narula, R., & Sharma, A. (2020). Digital payments and financial inclusion: A study of India's UPI system. *Journal of Economic Policy and Research, 15*(2), 45–62.
6. Raza, S. A., & Haq, I. U. (2020). Financial inclusion through mobile banking: Evidence from Pakistan. *Journal of Financial Regulation and Compliance, 28*(3), 395–410.

# پول ما نشانه از هویت ملی ماست!

## برای اینکه زودتر کهنه و مندرس نشود، از بکس های جیبی استفاده می کنیم



while, concentrate on client trust, offering modern, flexible solutions that meet evolving expectations while safeguarding assets and data. Both perspectives converge on the same principle: tokenization must deliver efficiency and innovation without compromising the stability and reliability that underpin finance.

## Conclusion

Tokenization is more than a technical upgrade, it is a strategic shift. For central banks, it strengthens systemic stability and resilience. For private banks, it unlocks new services, efficiencies, and client engagement. Together, these perspectives show how digital assets are redefining finance from policy to practice, reshaping both the architecture of global reserves and the experience of individual investors.

Anwar Ullah Hayat

Senior Publications Manager,

Da Afghanistan Bank

***References***

1. *Bank for International Settlements. (2023). Blueprint for the future monetary system: Improving the old, enabling the new. BIS Annual Economic Report. Retrieved from https://www.bis.org/publ/arpdf/ar2023e3.htm*
2. *BlackRock. (2025, December). Tokenization: The next evolution in market infrastructure. BlackRock Insights. Retrieved from https://www.blackrock.com*
3. *International Monetary Fund. (2025). Tokenization and financial market inefficiencies. Fintech Notes. Washington, DC: IMF. Retrieved from https://www.imf.org/en/Publications/fintech-notes*
4. *Monetary Authority of Singapore. (2023). Project Guardian: Exploring asset tokenisation and decentralized finance. MAS Reports. Retrieved from https://www.mas.gov.sg*
5. *Swiss National Bank & World Bank. (2024, May). Issuance of a digital Swiss franc bond using distributed ledger technology. Press Release. Retrieved from https://www.snb.ch*
6. *The Banker. (2024). Deposit tokens: Bridging traditional banking with the digital economy. The Banker Magazine. Retrieved from https://www.thebanker.com*
7. *The Economist. (2025, August). The geopolitics of tokenisation: How reserves and payments are becoming strategic tools. The Economist. Retrieved from https://www.economist.com*
8. *UBS Group AG. (2022). UBS issues the world's first digital bond. UBS Media Release. Retrieved from https://www.ubs.com*
9. *World Bank. (2026, January). Digital tokenized bonds: A new era for financial markets. World Bank Blogs. Retrieved from https://blogs.worldbank.org*
10. *World Economic Forum. (2025, August). How will asset tokenization transform the future of finance? WEF Insights. Retrieved from https://www.weforum.org*
11. *JPMorgan Chase & Co. (2023). Deposit tokens: A new approach to digital money. JPMorgan Research. Retrieved from https://www.jpmorgan.com*
12. *European Central Bank. (2024). Exploring wholesale CBDC and tokenised settlement models. ECB Occasional Paper Series. Retrieved from https://www.ecb.europa.eu*
13. *Bank of England. (2024). Central bank digital currency: Opportunities, challenges, and systemic resilience. Bank of England Discussion Paper. Retrieved from https://www.bankofengland.co.uk*

traditional debt instruments can be digitalized to achieve faster settlement and greater transparency. Similarly, JPMorgan has piloted deposit tokens, designed to facilitate secure and efficient payments across institutional clients, bridging conventional banking with digital asset ecosystems. These initiatives show that tokenization is not just theoretical but is being actively tested by major financial institutions, with tangible benefits in efficiency, liquidity, and client service. Such case studies illustrate how private banks are positioning themselves at the forefront of financial innovation, using tokenization to diversify products, reduce operational frictions, and meet the evolving expectations of a digital-savvy client base.

**Shared Opportunities and Risks**

Despite their different perspectives, central and private banks encounter a set of overlapping opportunities that make tokenization attractive across the financial system. One of the most significant is the potential for faster settlement, which reduces counterparty risk and frees up collateral more quickly. Tokenization also enhances transparency by recording transactions on distributed ledgers that are auditable and secure, thereby improving trust in both wholesale and retail markets. Beyond efficiency gains, tokenization can democratize finance by enabling fractional ownership of high-value assets, opening access to investors who were previously excluded. It also supports the creation of entirely new financial products, from tokenized bonds to digital deposit instruments, expanding the range of tools available to both policymakers and private institutions.

At the same time, both central and private banks must contend with risks that temper the promise of tokenization. Regulatory uncertainty remains a major challenge, as legal frameworks for tokenized assets differ widely across jurisdictions and questions of settlement finality and property rights are not yet fully resolved. Adoption is uneven, with some markets moving quickly while others remain cautious, creating potential fragmentation. The costs of technology integration are also significant, requiring investment in infrastructure, cybersecurity, and operational resilience. These risks highlight the need for careful design, pilot programs, and international cooperation to ensure that tokenization strengthens rather than destabilizes financial systems.

Ultimately, the overlap between central and private banks lies in the balance they must strike between innovation and credibility. Central banks focus on systemic trust, ensuring that reserves, settlements, and cross-border flows remain robust in a complex global environment. Private banks, mean-

Central Bank has also studied tokenized settlement models as part of its wholesale CBDC research, focusing on how distributed ledgers could integrate with TARGET (Trans-European Automated Real-time Gross Settlement Express Transfer) services to modernize euro-denominated debt issuance. Meanwhile, the Bank of England has examined tokenization in the context of systemic resilience, linking it to broader discussions on CBDCs and financial stability. These initiatives illustrate that for central banks, tokenization is not a speculative trend but a carefully managed exploration of how digital infrastructure can reinforce trust, efficiency, and resilience in reserve management and sovereign debt markets.

Taken together, these perspectives show that for central banks, tokenization is fundamentally about efficiency, transparency, and resilience—ensuring that reserves, settlements, and cross-border flows remain robust in a fragmented and politically complex global financial system.

**Client-Centric Innovation**

Private banks approach tokenization from a distinctly client-focused perspective, seeing it less as a matter of systemic resilience and more as a powerful tool for innovation and engagement. Industry commentary, such as that in *The Banker*, highlights how deposit tokens can bridge traditional banking with the digital economy, enabling faster, cheaper, and more secure services that appeal to a new generation of investors. BlackRock's 2025 analysis went further, comparing tokenization to the invention of SWIFT and describing it as the next major evolution in market infrastructure, capable of transforming how assets are issued, traded, and held. For private banks and asset managers, the practical applications are compelling: fractional ownership of high-value assets such as real estate, art, or infrastructure; the creation of liquidity in markets that were once illiquid; and enhanced compliance reporting through transparent, programmable ledgers. These innovations not only diversify product offerings but also reduce operational costs and improve client trust through clearer, real-time reporting. In this way, tokenization becomes a source of competitive advantage, allowing private banks to meet growing demand for modern, flexible financial solutions while positioning themselves at the forefront of a rapidly evolving financial landscape.

Building on this perspective, it is useful to highlight how private banks are already experimenting with tokenization in practice. UBS, for example, has issued tokenized bonds on blockchain platforms, demonstrating how

tokenization is closely tied to experiments with wholesale central bank digital currencies, tokenized sovereign debt, and new settlement infrastructures designed to improve collateral mobility and reduce counterparty risk. For private banks and asset managers, the attraction lies in product innovation such as fractionalized ownership of high-value assets, liquidity creation in markets that were once illiquid, and enhanced reporting and transparency for clients. Yet the promise is tempered by challenges: uneven regulatory regimes, cybersecurity vulnerabilities, and the risk of fragmented systems without global standards. Geopolitical dynamics add further complexity, as tokenized cross-border settlement could both reduce reliance on traditional correspondent networks and accelerate the rise of parallel financial blocs. Against this backdrop, tokenization is emerging not simply as a technical upgrade but as a structural shift—one that redefines finance from the top down, through policy and reserve management, and from the bottom up, through client services and market innovation.

**Policy and Systemic Stability**

For central banks, tokenization is not pursued as a fashionable innovation but as a means of reinforcing systemic resilience and ensuring the stability of financial infrastructure. The IMF's *Fintech Notes (2025)* argue that tokenization can reduce inefficiencies across the asset lifecycle, making issuance, trading, and settlement more transparent while lowering settlement risks. The World Bank's initiatives between 2024 and 2026, including pilots with tokenized bonds and wholesale central bank digital currencies, demonstrate how distributed ledger technology can modernize debt issuance and reserve management, offering faster processes and more secure custody arrangements. Meanwhile, discussions in *The Economist* and at the World Economic Forum highlight how tokenization is increasingly tied to geopolitics, as reserves and payment systems become instruments of national strategy rather than neutral financial tools. This shift underscores the need for new frameworks of trust, independence, and interoperability.

The Swiss National Bank, in partnership with the World Bank, issued a digital bond denominated in Swiss francs using distributed ledger technology, demonstrating how sovereign debt can be tokenized and settled securely on new rails. The Monetary Authority of Singapore, through its Project Guardian, has piloted tokenized government securities and cross-border settlement experiments, exploring how tokenization can reduce settlement risk and improve collateral mobility. The European

# Tokenization and the Strategic Shift in Global Finance

The financial world is entering a new era where tokenization or the digital representation of assets on distributed ledgers is beginning to reshape both policy frameworks and market practices in significant ways. At its core, tokenization enables ownership rights in assets such as bonds, equities, real estate, or commodities to be expressed as secure, programmable digital tokens. This innovation promises faster settlement, greater transparency, and wider access to markets, while also opening the door to new forms of financial intermediation. Leading institutions are paying close attention. For instance, the Bank for International Settlements (BIS) has described tokenization as a frontier for efficiency and trust, and both the IMF and World Bank emphasize its potential to modernize debt issuance, strengthen reserve management, and reduce systemic frictions. For central banks,



تاسو په سمه توګه د افغانۍ د بانکنوټونو د ساتنې په برخه کې مهم رول لرئ. د افغانۍ د بانکنوټونو له ژر زړېدو څخه د مخنیوي لپاره بټوې وکاروئ.



بانک The Bank
January 2026
شماره ۲۲۳ - شعبان المعظم - دلو ۱۴۰۴



# بانکداری اسلامی: راه مطمئن برای مشارکت مالی سالم